مورچل

د کابل دچارواکیو اسلام ضد هڅې او زمونږ دریځ

اشرف غنی و گامهابرای سیکولارزم در افغانستان

اتم کال، لسمه گڼه، پرلپسې (۷۴) یمه، ذی الحجه (۱۴۳۵) هـ ق، اکتوبر (۲۰۱۴) ز کال

دکابل واکمنو ، درې اسلام دښمنه هڅې ؟

پر مسجداقصی د صهیونیستي یرغلګرو د وروستي تیري په اړه...

په افغانستان کې دبریتانیادیا رلس کلن ناکام ماموریت

دصلیبي جګړې لومړی متحد هم په تیښته شو

دالنده غر ولي له حجاب سره دښمني لري؟

قومی فروختند و چه ارزان فروختند!؟

په هلمند کې څه تیریږي ؟



مورچل

اتم کال لسمه، پرلپسې (۷۴) یمه ګڼه، ذوالحجه (۱۴۳۵هـ ق)، اکتوبر (۲۰۱۴) ز

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

ګڼه	مطلب	مخ
۱	د کابل چارواکیو د اسلام ضد هڅی.....	۱
۲	اشرف غنی و ګامها برای سیکولارزم.....	۳
۳	د کابل واکمنو دری اسلام دښمنه هڅی.....	۵
۴	په افغانستان کی د بریتانیا ناکام.....	۷
۵	قومی فروختند وچه ارزان فروختند.....	۹
۶	شاخص ترین اهداف در انتخاب.....	۱۱
۷	نوی څپه او بدلون ته اړتیا.....	۱۳
۸	په اسلامی نړۍ کی د امریکا جګړی.....	۱۶
۹	په هلمند څه تیریږی.....	۱۸
۱۰	دجهاد فقهی مسایل.....	۲۲
۱۱	داسلامی شعایرو سپکاوی که دغرب.....	۲۵
۱۲	دالنډه غر له حجاب سره ولی دښمنی لری.....	۲۸
۱۳	دصلیبی جګړی لومړی متحد هم.....	۳۰
۱۴	قیام امام حسین (رض) رای تطبیق عدالت....	۳۳
۱۵	مونږ افغانستان ته دوژلو لپاره.....	۳۵
۱۶	دشهادت غوښتنی او فدایی عملیاتو.....	۳۷
۱۷	ذبیح الله مجاهد له خپل ولس سره.....	۴۲
۱۸	جنګی جنایتونه اکتوبر میاشت.....	۴۵
۱۹	دحضرت عمر (رض) او بشری قوانین.....	۴۷
۲۰	دایمان په وړاندی د تکنالوژی ماتی.....	۵۰
۲۱	ددعوت او ارشاد جلب او جذب کمیسیون....	۵۲
۲۱	میاشتني خبرونه.....	۵۴
۲۲	دمورچل وړمې.....	۹۴

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خپل، ایوب صافی،
حسن زوی، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس :

پته : کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

دکابل دچاروا کیو اسلام ضد هڅې اوزمونږ دریځ

تولو ته ښکاره ده، چې دکله نه چې غرب مشربه (اشرف غني) دامریکا او لویدیځ په هرارخیز ملاتړ ارګ ته ننوتی، دیوتاریخي جنایت په توګه یې په لومړیتوبونو کې داوه ،چې دامریکایانو سره افغانستان کې دپوځي هډو دهمیشني شتون ترون لاسلیک کړي او دتل لپاره مو خپلواک هیواد دامریکایانو په یوه مستعمره بدل کړي ،چې له بده مرغه نوموړی ددې ډول نه بخښونکې جرم ارتکاب وکړ،ډیر نږدې پسې د ارګ کمونست سلاکار (حنیف اتمر) په یوه ویډیویي کنفرانس کې، دیني مدرسې چې د اسلام پیاوړې کلا ګلانې او ددین د اشاعت مراکز دي ، (دده په اصطلاح) دترهګرۍ خالې وبللي او د اسلام ددې خالو پرخلاف یې یوه بدرنګه هڅه وکړه ،ورپسې په یوه مجرمانه جسارت سره دکابل انګلیسي ژبې (ایکسپریس) ورځپاڼې دځښتن تعالی ،اسلام او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ،په باب توهین آمیزه لیکنه خپره کړه اونړۍ کې پرې نږدې یو نیم ملیارد مسلمانان وځوروول ،اودادی دې وروستیو کې دلویدیځوالو په اصطلاح د کابل مشرې میرمن (رولا غني) دافغانستان دولس داسلامي معتقداتو او افغاني روایاتو خلاف دبي بي سي تلویزوین سره په یوه مرکه کې دفرانسې دمسلمانوښځو دشرعي حجاب پرضد ددې هیواد دحکومت له تګلارو سره موافقه وښوده اوشرعي حجاب یې په مفتضحانه ډول، درونداوالي سره مرادف وبالله ،چې دې فوق الذکر ناندریو نه یوازې افغانان وځوروول ،بلکې دنړۍ ګوټ ګوټ کې بې مسلمانان هم هیبتې کړل او دافغانانو دجهادي ماضي او حال ته په کتو ،داسلامي نظام دحاکمیت لپاره دمیلونونو انسانانو دوینو دنذرانو او دجهاد د الهام ځای په توګه دافغانستان له زړه څخه دکفریاتو نړیوال انتشار،ددې میړني قام په رنه شهکاره ماضي (خدای ج مکړه)دمسخې اوفسخې توره هڅه ده، چې له املې به یې ددې مسلمان ولس دلرغوني شالید ځلا تته او جهادي غرور به یې له حتمي کشمکش سره مواجه شي !

داخولا دنوې غلامې اداړې ! ! دواک لومړی وهلت دی، چې تراوسه یې چا خواږه ندې لیدلې، داقتصادي رغونې لپاره په اصطلاح یوازې په طرحو او پلانونو باندې یې خلک مصروف ساتلي او ځینې له پیښو څخه ناخبره وګړي داسې هم شته ،چې ددوئ له زانو څخه کتاړې غواړي !

ددې متزلزله اداري لومړيوناندريزو اوونيو ته په کتو به شايد دختونو عبوراو مرور ، ډډيرو داسې بدو پيښو شاهد وي اوکابل کې دلويديځ په ميو مست ډيرخماريان را به يې په ډير مرموز ،ډول لاس نيوی او ملا وتپوي اودا به دنورمزيد ځور او اوښکو تويولو کوونکې لحظات وي !

اوس پوښتنه داده چې د(اشرف غني)له واکمنيدو سره همهاله څنګه کابل کې ميشتې سيکولرکړۍ په تحرک راغلي او په انتقام جويانه بڼه يې پرله پسې داسلامي مقدساتو او افغاني عنعناتو پرضد په ډاګه پاروونکې هڅې پيل کړي ؟ددې پوښتنې ځواب ډير واضح او څرګند دی، او هغه داچې د(اشرف غني)په انتخاباتي کمپاينونو اولويديځو تبليغاتي رسنيو امريکا ، ،لويديځوحکومتونو او متعصبو کليساوو دومره لوړلګښتونه منل ، بل څه نه، بلکې دهمدې اسلام ضد فجايعو لپاره وو ،هغوئ چې ديوداسې چاپه مقابل چې ترشا يې دروس ،ايران ،تاجکستان اونوروسيمه ايزو هيوادونوغوندې غښتلې ملکونه ولاړوو ،داشرف غني او(رولا غني) مالي او تبليغاتي ننګه کوله ،موخه همداوه چې، ددوئ دواړو له ارګ څخه به ددې نامقدسو او پاروونکيو جناياتو سرې لمبې پورته کيږي، چې ټول مسلمانان به يې حرارت سوځوي او دليبرااليزم له منسوخو ترخو نه به ډک وي !

داهم يو غښتلی احتمال کيدلای شي، چې کابل ميشتې سيکولرستان ،ددې لپاره داسې اسلام ضد هڅې کوي، چې په افغاني ټولنه کې دخپلو تيرو څوارلسو کالودکوششونو پايلې ارزيابي کړي، او ووينې چې له نصراني او يهودي هڅو او بې دريغه لګښتونو ثمره يې څومره ده ؟ او آيا اوس هم دديموکراسۍ په اخور شخوند وهونکې ځينې افغان نما ځيرې !! دوئ ته وفادارې دي، او عام افغانانان نن هم دپخوا په شان په خپل دين او جهادي احساس د(بنيان مرصوص)غوندې کلک ولاړ دي ؟؟

جوته ده چې ،کابل کې داسلام ضد نا افغاني تحرکاتوپرخلاف ،افغان مسلمان ولس ،بې دريغه کرکه او انزجارښکاره کړی ،اوهم دمسلمان قام دهيلود اصيل وارث او رښتيني ممثل په توګه(اسلامي امارت)په خپل واز کومې ،دداسې پرديپالو تحرکاتوپرضد ، خپل منفي نظر وخت په وخت څرګند کړی ،او راتلونکې کې به هم دا په اثبات ورسوي ،چې دخپل ولس سره به اوږه په اوږه په هر محاذ او هرمورچل کې دداسې عقيدوي او ملي دښمنانو په وړاندې ولاړ وي، او ترهغې پورې به نه کښيني، چې ددې سيکولرستانو او غربيانو څخه دافغانستان اسلامي خاوره پاکه نکړي او پرځای يې دالله جل جلاله دين حاکم نکړي !!!

انشاءالله تعالی

محمد الیاس عاصم

اشرف غنی و گامها برای سیکولارزم در افغانستان

اشرف غنی و گامها برای سیکولارزم در افغانستان

به روی کار آمدن اداره اشرف غنی در کابل فصل نو در تاریخ افغانستان آغاز شد، این فصل به بسیار زرنگی، فریب و ذهنیت سازی ها از طریق رسانه ها، گردهمای ها، دیدارها و سفر ها درخشیده میشود، مردم عمداً از زیانهای پشت پرده آن غافل نگهداشته میشوند که این کشور رنجدیده انتظارش را دارد، افغانستان سر زمین اسلامی است، هر حرکت خلاف اسلامی و ضد دینی در این خطه غیر قابل پذیرش میباشد، اگر تعدادی فریب زمان را خورده باشند وفکر کنند که اکنون توانسته اند ذهنیت ها را منحرف سازند و دیگر مردم پی حرف های دینی و دین گرای آنقدر نه خواهد استادند، پس به یقین که همین مشت اشخاص خرد باخته اند وملت را به سمت هلاکت دیگر سوق میدهند.

پیشرفت کشور، ترقی زندگی مادی در حدود اسلام، کسب کار و سرمایه مجاز در دین، داشتن زندگی ارام و مرفه در محدوده شریعت وقانون اسلامی حرف جدا است، وهیچ منطقی نه میتواند به آن مخالفت داشته باشد، ولی اگر همین دست آوردها به قیمت از دست دادن احکام دین یا رهنمود های شریعت تمام شود، یا در بدل آن از ما اخلاق اسلامی گرفته شود، پس هیچ افغان مسلمان برداشت این مبادله را نه دارد، برعکس علیه ان قیام میکند ومی ایستد.

اداره کابل به سر کردگی اشرف غنی از آغاز دویش های انتخاباتی اش، حرف از تحول و دوام میزد ومردم را به چرب لسانی فریب میداد، معنی تحول در کلمات اشرف غنی تحول از اصول وپرنسیب های دینی بود، آن اصول که به صراحت با غرب گرای مخالفت دارد و نه میگذارد به نام پیشرف ، طرز زندگی حیوانی که تنها خوردن، نوشیدن و اطفاء شهوت از اهداف مهم آن است جزء از فرهنگ ما شود. از آغاز کار تا کنون اقدامات اشرف غنی نماینگر ان است که این مرد در راه منافع امریکا اصلا به باورهای مردم افغانستان اعتناء ندارد، امضاء بی درنگ پیمان با امریکا، چاپ مضامین ضد اسلامی در روزنامه های کابل، مخالفت با حجاب اسلامی ازطرف رولاغنی (فریند) اشرف غنی، به استهزاء گرفتن احکام شرعی وسایر گستاخی ها، پیام خطرناک به آینده ملت ما دارد و مقتضی آن است که ملت به اسرع وقت بیدار شده و در برابر

انحراف بایستد. مجاهدین به قیمت خون خود در راه پاسبانی از دین ازهمه آن راه ورویش ها استفاده می نمایند که توأم به از بین بوردن اشغال، استحکام نظام اسلامی و به جزا رساندن منافقین قسم خورده، به کیفر اعمالشان باشد.

یگانه راه نجات این ملت در تداوم جهاد نهفته است، قسمی که از شر کمونزم به برکت و بازوی جهاد رهایی یافتیم همچنان کشیدن کشور از چنگال سیکولارزم (بی دینی) هم به شمیر نیاز دارد و قربانی بیشتر میخواهد.

اشخاصی که هنوز هم در ردهای اداره کابل فعالیت دارند و فکر میکنند مسلمان هستند باید درک کنند که در دستگاه اشرف غنی و نیز در برابر امریکایها یک حبه ارزش ندارند، بلکی بخاطر استفاده از دستار، چپن، ریش و ظاهر شان همچو گوسفندان نگهداشته میشوند.

افراد امنیتی اداره کابل اعم از عساکر، پولیس وسایرین هم باید درک کنند که دفاع آنها از اهداف شوم کفری است، امریکایهای خواستند تا در راه منافع شان عوض خون امریکایی باید خون افغانی بریزد، پس در برابر چند پول تعدادی از افغانهارا به نام عسکر، پولیس و کارمند اداره کابل استخدام نمودند و از جان آنها استفاده افزاری می نمایند.

این افراد افغانما که فریب خورده اند اگر از فامیل مسلمان هستند، از مادر و پدر مسلمان به دنیا آمده اند، پس نه باید بخاطر اهداف کفري، سیکولارستی و غرب گرایی کشته شوند، زخمی شوند و به مخاطره أفتند، ولی اگر انها نیز مفکوره ضد اسلام را از خود کرده اند، روی شعور و عقل از منافع امریکا و کفار دنیا حراست میکنند، پس ما نیز خوش هستیم، زیرا تیر کمان ما مستقیماً بخاطر از بین بوردن دشمن خدا استعمال خواهدشد.

این نظامیان مزدور باید بدانند که در مسیر تاریخ ما نیروهای مقتدر تر از آنها، که علیه اسلام و شریعت موقف گرفته بودند، در این کشور رادمردان به زانو در آورده شده اند.

ما متأسف هستیم که به کدام دلیل، مزدوران وغلامان امریکا، هر روز شاهد اقدامات ضد اسلام هستند ولی هنوز هم خود را قناعت میدهند که در صف اداره اشرف غنی ایفای وظیفه نمایند و سیل بین همه اسلام ستیزی ها باشند!!؟

دکابل دواکمنو، دې اسلام دښمنه څخې؟

خلیل. عزیز

په ۲۰۰۱ کې ، کله چې امریکایانو کرزی دکابل ارګ ته یووړ اودولسمشرۍ عهدې ته یې وګمارہ ، نو غربي اوامریکایي میډیا د(سې ای اې) اوپنټاګون په قومانده ، دکرزي په نورو بې ربطه ستاینوسربیره ، اَن دهغه د چپنې اوقره قولي په اړه هم جذاب تبیلغات په لاره واچول اوچې کله به نومورې غرب اوامریکاته په سفر و، نو هرومرو به یې کوم مشهور خیاط اوستایلوال له هغه سره مخ کاوه، ترڅو دکرزي دچپني اولباس ستاینه وکړي ، چې خورا جالب اوجذاب دی ، کرزي به هم چې دغه مصنوعي صفتونه واوریدل، نو اتومات به ګویان شو ، چې هو ! دازمونږ وطني لباس اوجامه ده ، نوځکه یې اغوندي !

یعني کرزي دخپلو بادارانو په مرسته نړۍ اوافغانانو ته داذهنیت وروبانه ، چې که څه هم له سره تر پښو مې خلک امریکایي نوکر اوغلام بولي، اوهر ګام اوحرکت مې په امریکایي اربابو روان دی ، خو بیاهم افغاني لباس ، چپنه اوقره قولي اغوندم ، ګوندي افغانان تریوې اندازې تیروځي، چې وګوري کرزی ،دومره مستقل اودخپلواک کرکټر څښتن دی ،چې اَن په سپینه مانۍ کې هم افغاني جامه په تن لري اوغربي ستایل نه خوښوي !!

خواصلي واقعیت لکه دلمر روښانه واودی ، چې کرزي په همدغې چپني اوقره قولې ۱۳ کاله امریکایایي یرغل اووحشت په کوم هنر وپاله اودیرغلګرو لاس یې دنیږدې ۲ لکو مظلوموافغانانوقتل عام اودیومیلون هیوادوالو شکنجې په څومره مکاره ژبه توجیه اوپرده پې پرې واچوله.

یووخت داسې هم راغې چې دهمدغې امریکایي اوغربي میډیااوسیاستوالو له لوري کرزی دومره بې حیثیته ، ناکام ،دوه مخی اوبې اداړې معرفي شو، چې دتیرو ۱۳ کلونوپه اوږدو کې چې څومره جنایتونه اوفجایع امریکا اوناټوپه افغانستان کې ترسره کړي وو، اویایې دجنګ اوسیاست په ډګرونوکې له کوم ډول شکستونوسره لاس اوګریوان شوي وو ، پرې اومسؤلیت یې ټول په کرزي اودهغه په ټیم وغورځاوه، خوداهغه وخت و، چې نور امریکایانوپریکړه کړې وه ،چې دکرزي په عوض به یوبل غلام رامخې ته کوي اودیوڅه مودې لپاره به افغانان په نوي نوکر تیرباسي!!

امریکایانو دکرزي ، په ځای اشرف غني او هغه ځیرې ، راوړاندې کړي، چې افغانان یې په لیدلواودنوم په اوریدلواستفراق کوي ، خوامریکایانو درک کړې وه ، چې د اشرف غني ،په مغز اوفکر کې پرته له امریکایي منافعواو کټوبل څه نه ګرځي اونه ګرځیدای شي ، ورسره په څنګ کې دپخواني ټلوالې غدارانو خوهسې هم امریکایانو ته امتحان ور کړی ، چې دیوځو چوکیواوځوبنډله ډالروپه وړاندې ، که په یوه ورځ باندې یومیلون افغانان هم له منځه ځي اویاافغانستان په لسو ټوټوهم ویشل کیږي ، خو چې دوئ ته پکې یوځه شخصي ګټه لهلاسته ورځي ، مخ به ترینه وانه ړوي !

اوس ، امریکایي اوغربي میډیاله اشرف غني څخه غواړي دیوځه مودې لپاره دواورو فیل جوړ کړي ، په امورو کې دچټکیتا ، جدیت اودقانون دنافذونکي په شکل کې ورته پراخ تبلیغاتي کمپاین وچلوي ،چې ګواکې اشرف غني دومره دقانون پابنددی ،چې په کابل بنار کې یې دخپلو چارواکو اوپارلمان دوکیلانو دموټرو توري شیشي سپینې کړي اویاپه تورماښام دکابل بنار روغتون ته ورغې اوځونرسان اوداکټران یې دنه شتون له امله منفک کړل .

ولې بادر که افغانان پوهیږي ، چې اشرف غني په دغو مصنوعي اوسمبولیکو څوګامونو ، هیڅکله په هغه ستر تاریخي جنایت پرده نشي غورځولای، چې دلوړې په دویمه ورځ یې دافغانستان په سر دامینتي ټرون په شکل کې معامله وکړه اوامریکاته یې دافغانستان دخرڅلاو قباله په ډیرې سپینې ستر ګې اولیونتوب وروسپارله.

افغانانو ، داشرف غني دامنیتي سلاکار ،(حنیف ! اتمر) دهغې ړومبنۍ مرکې مهم ټکي هم واوریدل ،چې ددینې مدرسوبندول یې دخپل کار له لومړیتوبونو څخه وشمیرل ، دغه ډول متدین افغانان لدې حقیقت څخه هم خبرشول، چې دافغانستان په تاریخ کې په ړومبي ځل په ارګ کې کلیسا پرانیستل شوه، ترڅو په اصطلاح ړومبۍ عیسوي میرمن (رولا غني) پکې خپل عبادت وکړي اوافغانانو درولا غني هغه له ګمراهي ډک ټکي هم واوریدل ،چې (دفرانسې په هیواد کې دمسلمانو میرمنو په اسلامي حجاب لګیدلي بندیز، سره خپله موافقه په ډاګه کړه) !!

مونږ باور لرو چې اشرف غني اوتالیځتي رژیم لپاره یې پورته درې اسلام دښمنه تازه دم حرکات ، دهغوئ دزوال اومحوې لپاره کافي اوبس دي ، ځکه افغان ولس دتاریخ په اوږدو کې دهغو واکمنواورژیمونوپه مقابل کې چې داسلامي اوافغاني روایاتوپه خلاف یې لکه داشرف غني دحلقه بګوش رژیم ،په څیر هڅې کړي داسې تل پاتې ځواب ورکړي ، چې په ډیر لږ وخت کې یې نه داچې دواکمنیو تختي نسکوري شوي ، بلکې قبرونه یې هم دغه باشهامته ولس نه دې ببنلي .

په افغانستان کې

شاهد(غزنیوال)

دبرتانیا دیارلس کلن ناکام ماموریت

د روان میلادي کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۶ د یکشنبې په ورځ امریکایي سمندري او برتانوي ځواکونو په هلمند ولایت کې خپل دیارلس کلن پوځي ماموریت بغیر له هیڅ لاسته راوړنې پایته ورساوه.

د انګلستان په تاریخ کې دا د برتانوي ځواکونو تر ټولو پر مصرفه او بې نتیجې ماموریت دی چې دخپل هیوادله پولو بهرې ترسره کړ .د برتانیا ولس تل د دغه ناکام ماموریت په اړه د خپل حکومت پریکړې غندلې او هغه بې د خپلوخلګواو هیواد لپاره یو شرموونکی ماموریت بللی.

دغه ناکام ماموریت چې په ۲۰۰۲کال کې د انګلستان د پخواني لومړي وزیر توني بلیرد واکمنۍ پر مهال پیل شو، د هغه د خلف ګوردن براوند په واکمنۍ کې ډیره پاملرنه ورته وشوه او د اوسني صدراعظم ډویډ کامیرون د واکمنې پر مهال په ناکامې سره پایته ورسیدو.

په دغه ناکام ماموریت کې برتانوي عسکرو په مالي تلفاتوسربیره ډیرځاني تلفات هم ولیدل، نیږدي ۴۵۳ تنه یې ووژل شول، ۲۴۰۰ژوبل او تر ۵۰۰۰ زیات یې په روحي ناروغیو مبتلاشول.

د برتانوي پوځیانو د فعالیت سیمه د هلمند ناآرامه ولایت وه چې په تیرو ۱۳ کلونو کې یې د دې ولایت له ۱۴ ولسوالیو څخه یواځې په دریو ولسوالیو کې خپلې پوځي اډې ځای پرځای کړې وې.په دغو پوځي اډو کې یې تر ټولو لوی مرکز کمپ بستین وه چې د یکشنبې په ورځ یې په سر رسیدونکی انګلیسي بیرغ د تل لپاره ځوړند شو.

له امریکا وروسته بریتانیا دوهم هیواد وه چې په افغانستان هلمند ولایت کې ۹۰۰۰ عسکر له وسله والو طالبانو سره په جګړه لګیاول، تراوسه پوري پر دغه ۹زره کسیز ځواک د انګلستان حکومت ۳۱،۱ ملیارده انګلیسي پونډه مالي لګښت کړی او د روان ۲۰۱۴ کال تر پایه پوري به یې دغه لګښت پوره ۴۰ ملیارده انګلیسي پونډه ته لوړشي.

په افغانستان هلمند ولایت کې د برتانوي ځواکونو ۱۳ کلن ماموریت ځکه ناکام وه چې د هغوی له ټولو پوځي هڅو سره سره بیاهم دا ولایت د افغانستان په کچه تر ټولو ناآرامه او د ټول هیواد په کچه ډیر زیات بهرني پوځیان ورکې ووژل شول.

همدا لامل دی چې برتانوي خپلواک سیاست پوهان او د عام ولس ۶۸ سلنه خلک یې په دې نظر دي چې د دوی حکومت باید افغانستان ته پوځیان نه وی لیږلي

د برتانیا مشهور لیکوال او سیاسي محلل فرنک لیدویج (Frank Ledwidge) په هلمند ولایت کې د انګلیسي ځواکونو د پوځي ماموریت په اړه په وینو کې پانګونه(Investment-Blood) په نوم تفصیلي کتاب لیکلی او په هغه کې د کره ارقامو له مخې د برتانوي ځواکونو ناکامي او هغوی ته وراوښتي تلفات ټول تشریح کړي.

نو موږی لیکوال په افغانستان کې وژل شوی برتانوي پوځیان د پردۍ جګړې قربانیان بللي او له خپلو سیاسي چارواکو څخه یې ګیله کړې چې خپل پوځیان یې له داسې چاسره په جګړه واچول چې هغوی یې تر هرڅه له مخه پوځي مورال ورختم کړ. نوموړی وایي اوس زمونږ پوځیان د مورال بایللو پوځیانو په نوم له افغانستانه بیرته راګرځي چې هغوی به له دې وروسته هیڅ ځای هم هیڅ ډول پوځي بریا ترلاسه نه کړي ؛ ځکه هغوی نور د پوځي وړتیا مورال له لاسه ورکړی.

د یاد کتاب مؤلف وایي چې مونږ کولای شوای په هلمند ولایت کې پر لګول شویو مصارفو باندې د ځلویښتو کلونو لپاره ۱۰۰۰ لومړني ښونځي ،یا د راتلونکو لسو کلونو لپاره د ټول انګلستان د لوړو زده کړو د محصلینو تعلیمي لګښت ،یا د۵۰۰۰ پولیسو او نرسانو لپاره د هغوی دخدمت د دورې میاشتنی معاش او یاهم د۵ کلونو لپاره د خارجي پانګوني ټوله بودیجه باندې پورکړې وای ، خو اوس له ډیره بده مرغه چې دا ټول مصاریف پریوې داسې بې هدفه جګړې باندې مصرف شول چې د برتانویانو لپاره یې له تاوانه پرته هیڅ ګټه نه ده لرلې.

په هلمند کې د انګلسي ځواکونو ماموریت له دې امله هم ناکام وه چې دهغوی د ۹زره کسیز ځواک ترځنګ په لسګونو زره نور امریکایي سمندري او د ناټو ترون مجهز پوځیان هم موجود ول چې شمیره یې تقریبا ۴۰۰۰۰ زروته رسیده خو د دې باوجودیې په پوځي او امنیتي لحاظ هیڅ لاسته راونه نه لرله.

د هلمند ولایت د جګړې د ښکیلو اړخونو لپاره په پوځي بُرد باخت کې حیاتي ارزښت لري، له همدې امله ویلای شو چې په هلمند کې دامریکا او برتانیا پوځي ناکامي په ټول افغانستان کې دهغوی د ناکامي معنا لري . د دغې ناکامي په معنا تر بل هرچا د هغو برتانوي پوځیانو خپلوان ښه پوهیږي چې د هلمند پردۍ جګړې د تل لپاره د خپلو نازولیو له لیدلو محرومي کړې دي.

قومی فروختند وچه ارزان فروختند!؟

حسن مومند

هو! دانتخاباتي کمپاینونوپه ترڅ کې په غونډو اودرسنیوسره په مرکوکې به چې غرب ته دخپلې وفاداری ښکاره کولواودامریکا دډاډ اوتائید دترلاسه کولوپه موخه هریو اشرف غني احمد زي او عبدالله عبدالله ویل ،، که ولسمشرشوم دامریکاسره به امنیتي تړون لاسلیک کړم ،،

دوئ دواړو رښتیا ویل :ننی عمل یې دپروني قول سره په تضاد کې واقع نه شو: څه یې چې ویل او دڅه تمه چې ترې کېدله هماغسې یې وکړل. په دوئ دواړو کې دهریودولسمشر کېدوپه صورت کې ددې کرغېړن تړون لاسلیک کېدل یقیني و؛هیچاته پکې هم دشک ځای نه و؛ هرچادایقیني ګڼلو خوعمومي فکر داوچې امریکا ته به یولړ شرطونه وړاندې کړای شي ؛ ګڼ امتیازات به ترې ترلاسه شي اولکه کرزي چې دهېواددمختلفوبرخونه څوپردي پالي پلازمېنې ته راټول کړي وواوراټولوشویوتنانو ته یې دلویې جرګې نوم ورکړی و اشرف غني او عبدالله به هم داسې یوغولونکی اقدام وکړي او لږترلږه لاسپوڅي پارلمان ته له وړاندې کولو اوترې دمنظوری اخستلونه پس به یې لاسلیک کړي .نودعمومي فکرخلاف چې بې له کوم قید اوشرط نه په خورا ډېرې بیړې دهېواد اوملت پلورنې دابدنام سندلاسلیک شو رښتیا داده چې خلک یې ډېرحیران کړل ،وهرچا دحال په ژبه ویل: قوم ے فروختند وچه ارزان فروختند!؟

دامریکایانو دارادې اوغوښتنې سره سم دډاکټراشرف غني اوډاکټر عبدالله دګډ حکومت دلوړې مراسمو په دوهمه ورځ یعنې دتلې میاشتې په اتمه نېټه چې دستمبر د۳۰ مې سره یې سمون خوړپه پټو سترګو دامنیتي تړون په نوم دافغانستان په تاریخ کې هغه تور اوبدنام سند چې له مخې به یې افغانستان دامریکا یو مستعمره هېوادوي، په ارګ کې دامریکا دسفیر "جمیز کنګم" اود ملي امنیت سلا کار" حنیف اتمر" تر لاسلیکونو وروسته ګډ دولت رسماً امریکاته ور وسپاره .

پردین ،خاورې اوآزادۍ مین دهېواد هر اصیل بچی له امریکا سره دغه تړون د ملت اوتاریخ دواړو په وړاندې نه هېرېدونکي جنایت اوخیانت ګڼي ؛هېوادته یې دداسې لویو بدمرغیو اوبدبختیوعامل بولي، چې دراتلونکو نسلونو لپاره به خورا بدې پایلې اوترخه عواقب ولري .نوځکه یې له منلو انکار کوي وپه سختو الفاظو یې غندي .

پدې هرباشعوره شخص پوهېږي چې ښکېلاکګرې امریکا چې ړومبی فضا کړ کېچنه اوبیایې یواځې یونه بلکې دشرف غني په کامیاب اعلانولواوعبدالله ته داجرایوي ریاست په ایجادولودواړه واک ته ورسول نو همدا دواړه یې په ټول هېواد کې ترټولوزیات د خوښې اوباوروړ تنان ول ؛ ددواړودوفاداری نه مطمئنه ده اوپدې باوري ده چې هریویې دامریکا دزړه په ارادو اودسترګو په شارو ښه پوهېږي ؛ښه په ورین تندي یې هرحکم ته لبیک وایې ؛ بې چون وچرایې ټولې غوښتنې اوسپارښتنې مني ؛دشومو اهدافو په پوره کېدو کې به یې مسلسله مرسته کوي .ودښکېلاکي پروژوپه تطبیق کې به ورسره ښه پوره اخلاص ښکاره کړي : دخپل هېواد دګټونه

دامریکا ګټوته زیات ژمن او وفادار دي ؛ ترڅنګ یې دواړه دامریکاد احساناتو ښه ډېرپوروړی دي اوترټولومهمه داچې داسې حریصه څېره پاتې نه شي چې دواک نه دمحروموالي له امله د دې سندسره مخالفت ښکاره کړي ؛اوټول ګوډاګیان په اتفاق په افغانستان اوسیمه کې دامریکا دګټولپاره دټاکل شوې استعماري ستراتیژۍ اود امریکایې اهدافو ضد ننګونو او چیلنجونو سره په کلکه مبارزه وکړي. دملت داصیلوبچیانودغوڅ اکثریت دنارضایت اومخالفت باوجود،ددې سند تحمیلول دا جوتوي چې امریکا که څه هم په نظامي ډګر کې شکست خوړلی ؛د مخامخ مقابلې توان یې له لاسه ورکړی نوبه سنګرونوتښتي اوترخپلوسترو مرکزونو محدودېږي خوسره له دې هرڅه دلته ددایمي پوځي اډو لرلو سره لیوانه ده،څو دنته دشتون له لارې دافغانستان له جغرافیوي موقعیت څخه په ناوړه ګټه اخستلوپه منطقه کې دخپلوشومواهدافو دحصول جال خپور؛ دڅاراوجاسوسۍ شبکه تقویه کړي ؛ په ټولې سیمې کې خپل استعماري پلانونه عملي کړي ، سیمیز رقابتونه وپالي اودسیمې هېوادونوترمنځ دښمني رامنځته کړي .

په ټوله کې دسیمې ټول اوخصوصاګاونډي هېوادونه به دومره همت ونکړي چې ددې سند سره ډاګیز مخالفت ښکاره کړي خولاس ترزنې به هم نه وي ناست ؛په عمل کې به غبرګونونه ضرور وښیي ، زمونږ غریب او جګړه ځپلی هېواد به د منطقوي لانجو اواوږدمهالوسیالیو په یولوی ډګر بدل شي او ولس به مو دنه جبرانېدونکو زیانونو او ستونزو سره لاس اوګریوان شي

پاتې شوه داخبره چې آیاامریکا به ددې تړون په لړ کې شویو تعاهداتو ته ژمنه پاتې شي ؟

دامریکا دوجود نه یې ترننه په خپل ټول تاریخ کې دوفا توری نشته ؛ ټول تاریخ یې دبدماشۍ ترڅنګ له غدر ،خیانت اوټګیو نه ډک دی ، ترې په کړو ژمنو دوفا تمه عام افغانان خوپرېږده خپل لاسپوڅي هم نشي کولای البته داشرف غني اوعبدالله اداره به ټکي په ټکي اوقدم په قدم ددې تړون په لړ کې دشویو تعاهداتو ژمنتیاته اړ وي نو دلاسلیک شوي تړون له مخې چې دلته پاتې کېدونکي امریکایې پوځیان د هرډول قضائي اوحقوقي مصؤنیت نه برخمن ګرځول شوي ، ښه په خلاص مټ به مظلوم افغانان وژني ؛ په کورونو به یې وراوړي؛ خپلو اډو کې به یې زندانیان کوي خوافغانان اودافغانستان قوانین به ددې وحشیانو دمحاکمه کولو صلاحیت نلري اونه به هم څوک د افغانانو دوژنو اوزورونو فریاد اوري ؛او که یې واوري څه فایده به ولري ؟

په فلسطین ، کشمیر ، چیچنیا ،بوسنیا ،برما ،منځنۍ افریقاکې چې پر مسلمانانو کوم دحد نه وتلي ظلمونه ټولې نړۍ ته دلمر په څېر روښانه دي اوپکې دملیونونو وژل شویو ، معیوبواوټپیانو ،رقام پخپله دملګرو ملتونو ولویدیځ دادارو له لورې خپاره شول ظالمو اووحشي حاکمانواودولتونو نه چا ددې مظلومانو پوښتنه وکړه ؟ اوپه تېرو ۱۳ کلونو کې چې په افغانستان او عراق کې امریکا او متحدینو یې کوم بې ساري ظلمونه وکړل څوک به ورته ددې ظلمونو په هکله ووایې چې په مخ دې څوسترګې دي ؟

هو! لله الحمد پخپله مسلمان شازلمي دي چې په خپلوخویندو او ورونو دترسره شویو دې ټولو وحشتونو پوښتنه کوي اوپدې پوهېږي چې وحشي دښمن یواځې دزور په ژبه پوهېږي ، نه دمظلومیت په اوښکوتویولو اودکمزورۍ په آهونو پورته کولو .

نو امریکا اوګوډاګیان یې باید پدې پوه شي چې دغفلت زمانه لا ډېره پخوا تېره شویده ؛ دملت شازلمي دخپل دیني اوملي مسؤلیت نه غافل ندي ؛ ددې حساسو شېبو او حالت په نزاکتونوډېر ښه پوهېږي ؛ دامریکا د شومو عزایمو او پلانونونه ډېرښه خبردي نوځکه یې دامریکا د بدو ارادو په وړاندې پراخ مني پاڅون کړی. ټول هېواد وال به په یو غږ اویو ځواک ددوئ ارادې له خاورو سره خاورې کړي، ځکه چې دټولو دا عقیده ده چې راتلونکي نسلونه اوتاریخ به مو مجرمانه غفلت را ونه بښي.

دااوس په امریکایانو ده چې په سندونو ځانونه غولوي اودخپلو نازولو فوځیانو ککرئ خاورې کوي او که دحقایقوپه درک کولو ژر تر ژره له دې هېواده پښې سپکوي .

شاخص‌ترین اهداف در انتخاب و انتصاب کارگزاران

(بخش دوم) (به قلم)

۱. توانمندی و امانتداری:

سیاست عملی حضرت عمر در تعیین کارگزاران، توجه به توان مدیریتی در پیشبرد اهداف خلافت اسلامی، و تعهّد و احساس مسئولیت آنان در قبال وظایف محوّله بود. ایشان با در نظر گرفتن اصل دینداری و پایبندی به دین، برتری کارگزاران را در توان مدیریتی آنان می‌دید و هیچ‌گاه عبادت‌های فردی و زهد، ملاک توانمندی افراد نزد وی نبود. چندان که شرحبیل‌بن‌حسنه را عزل کرد و معاویه‌بن‌ابی‌سفیان را به‌جای او گمارد. وقتی شرحبیل از ایشان پرسید: یا امیرالمؤمنین! آیا مرا به دلیل نارضایتی از عملکردم عزل کردید؟ جواب داد: «لا! إنک کما أُحبّ، ولکنّی أُرید رجلاً أقوی من رجل: نه! تو چنانی که من دوست دارم، ولی من در پی فرد توانمندتری هستم.

۲- بینش و خبرگی:

حضرت عمر در تعیین کارگزاران، اولویت ر به علم و فقه می‌داد و فقیه‌ترین و دانشمندترین افراد ر بر مردم میر تعیین می کرد. در کنار این به بینش و خبرگی افراد نیز توجه خاصی داشت و سعی می کرد خبره‌ترین افراد را که بر اوضاع و احوال جامعه واقف‌ند و بینش صحیحی دارند، انتخاب کند. همچنین معتقد بود که فرد پرهیزگار و نیک‌سیرت اما ناآگاه از مسائل و اوضاع جمعه، در دام شیادان و فتنه‌گران گرفتار می‌شود؛ ازاین‌رو، وقتی در تعریف مردی گفته شد: «إنه لایعرف الشرّ: او بدی را نمی‌شناسد.» از استخدام وی منصرف شد و گفت: «ویحک! ذلک أدنی أن یقع فیه: وای بر تو! چنین شخصی زودتر به بدی گرفتار می‌شود. حضرت عمر بر ی بالا بردن توان مدیریتی و کسب آگاهی و تجربه بیشتر والیان و کرگزاران، آنان را به شرکت در گردهمایی‌ها و دوره‌های آموزشی و توجیهی مختلف فرامی‌خواند. امروزه نیز در کشورهای توسعه‌یافته برای تقویت نظام مدیریتی کشور، در کنار دانش و تحصیلات عالیه مدیران، به تجربه و خبرگی و همچنین گذراندن دوره‌های مختلف مطالعاتی، آموزشی و توجیهی، توجه ویژه می‌شود.

۳. همگونی فرهنگی والی با رعیت؛

نکته بسیار مهم دیگر در گزینش و انتصاب کارگزاران و والیان این است که والی با ویژگی‌های فرهنگی و عرف و عادت‌های مردم منطقه‌ای که بر آن ولایت می‌یابد، آشنا باشد تا بتواند با تفاهم و هماهنگی بیشتر با مردم و درک بایدها و نبایدهای عرفی آنان، اهداف و برنامه‌های نظام اسلامی را در قالب فعالیت‌های اصلاحی و اجتماعی، تأمین امنیت و توسعه اقتصادی و معیشتی پیش ببرد: زیرا فرد ناآگاه از فرهنگ مردم، چه‌بسا پاره‌ای از عرف و عادت‌های آنان را منکر بپندارد و

به مبارزه با آنها برخیزد و آرمش و امنیت جامعه را به‌هم بزند و اسباب نارضایتی مردم را فراهم کند. بر این اساس حضرت عمر هیچ‌گاه اهل بادیه را بر اهالی شهرها یا شهرنشین را بر بادیه‌نشینان والی تعیین نمی‌کرد. و چه‌بسا برای هم‌هنگی بیشتر بین والی و مردم، وی را از میان بومیان همان شهر و دیار انتخاب می‌کرد؛ چنان‌که سلمان فارسی را بر مدائن، و نافع‌بن‌حارث را بر مکه، و عثمان‌بن‌ابی‌العاص را بر طائف امیر قرار داد که خود از اهالی همان شهرهایی بودند که بر آن ولایت یافتند.

۴. دلسوزی و شفقت بر مردم؛

خلیفه دوم خودش را در قبال همه مردم مسئول می‌دانست و هیچ‌گاه نمی‌پسندید کمترین فشار و ناگواریی از سوی کارگزارانش بر آنان تحمیل شود؛ ازاین‌رو، همواره می‌کوشید تا علاوه‌بر سایر معیارها، امیر و کارگزار را از میان دلسوزترین افراد انتخاب کند تا مردم را در هلاکت و سختی نیندازد. روزی، مردی که حضرت عمر می‌خواست او را والی قرار دهد، به نزد ایشان آمد و دید که خلیفه فرزندانش را به آغوش می‌گیرد و آنها را می‌بوسد. مرد تعجب کرد و گفت: واقعاً شما فرزندانت را می‌بوسی؟ من تا حالا هیچ یک از فرزندانم را نبوسیده‌ام! حضرت عمر گفت: «فأنت والله بالنّاس أقلّ رحمة: قسم به خدا، تو [با این اخلاق] بر مردم نامهربان‌تری.» و از استخدام وی منصرف شد.

۵. استخدام نکردن خویشاوندان؛

حاکمان و دولت‌مردان برای مصون ماندن از بسیاری تهدیدها و چالش‌ها و ایجاد حاشیه امن پیرامون خود، همواره پست‌های کلیدی را به نزدیکان خود واگذار کرده‌اند. این سیاست باعث شده تا فرد لایق و توانمند به دلیل نداشتن روابط نزدیک و خویشاوندی با حاکمان، از عرصه خدمت دور بمانند. و افراد نالایق و کم‌توان صرفاً به دلیل قرابت استخدام شده و بدون ترس از عزل‌شدن، طبق سلیقه و میل خود بر مردم حکم برانند و دود بی‌عدالتی‌شان در چشم همه مردم برود. حضرت عمر با آن که برخی از نزدیکانش مانند پسرعمویش سعیدبن‌زید و فرزند بزرگوارش عبدالله‌بن‌عمر از افراد لایق و توانمند بودند، برای اصلاح و تعدیل این روند و بستن درهای سوء استفاده بر ی آیندگان، از آنان در مسئولیت‌های حکومتی کار نگرفت، و می‌گفت: «من استعمل رجلاً لمودّة أو لقرابة لایشغله إلا لذلک فقد خان الله و رسوله؛ کسی که شخصی را تنها به دلیل رابطه دوستی یا خویشاوندی بر مسئولیتی بگمارد، به خدا و رسولش خیانت کرده است.

۶. انتخاب نکردن متقاضیان مسئولیت؛

زمامداری، مسئولیتی سنگین در قبال خلق و خالق است. انسان دوراندیش هیچ‌گاه به خواست خود تن به چنین مسئولیت سنگینی نمی‌دهد، و آن که برای تصدی مسئولیتی پیش‌قدم می‌شود، احتمال می‌رود که در آن نفعی دنیوی می‌جوید. برهمین‌اساس، فاروق اعظم هیچ‌گاه طالبان زمامداری را استخدام نمی‌کرد. این اصل در سنّت نبوی ریشه دارد و حضرت عمر با عمل بر این سنّت، می‌گفت: «من طلب هذاالامر لم‌یعن علیه؛ کسی که طالب پست باشد، در کارش [از جانب الله] مدد نمی‌شود.

نوې څپه؛

اوبدلون ته ارتیا!

رحیم الله (دریفل)

څه موده وړاندې مې د [بي بي سي [فارسي یوه تلویزوني خپرونه لیدله، چې کیدای شي ډیروخت مخکې به جوړه شوې او خپره شوې وه، اما یوه ورور ډانلوډ کړې او ماته یې هم د دې ګردي میز د کتلو سپارښتنه وکړه.

د خپرونې د بحث موضوع وه (د مقدساتو توهین او د بیان آزادي) د بحث ګډونوال څلورتنه ایرانیان وه، چې یوه یې د بیان آزادي ته درناوی درلوده اما ویل یې چې مقدسات بیله موضوع ده، او باید درناوی ورته ولرو. او درې تنه نور یې په بشپړه توګه د غربي دیموکراسۍ ترسیوري لاندې راغلي وه او یې له فکره یې دا خبره په پوره جرات سره کوله، چې مونږ نه شو کولای له مقدساتو څخه د دفاع په نامه د بیان د آزادۍ مخه ونیسو.

په هر صورت دا بحث په یوه غربي هیواد کې ترتیب شوی وه او درې ګډونوال یې هم داسې کسان وه، چې د ډیموکراسۍ تر وزر لاندې یې د مادي ژوند امکانات تر لاسه کړي وه او په یوه پرانیستې ټولنه کې یې ساه اخیستې وه کومه دنده چې ورسپارل شوې وه د هغې له مخې مجبور وه چې داسې په سپین سترګۍ سره ټول ارزښتونه او معیارونه تر پښو لاندې او څه چې یې زړه غواړي ویې وایي .

نوې څپه!

د پورتني بحث تر لیدلو وروسته مې چې ټکان وخوړ، هغه د راډیو له لارې د هیواد د ملي امنیت د سلاکار حنیف اتمر د خبرو اوریدل وه، چې ویل یې په سویلي اسیا کې د دیني مدرسې وتړل شي.

لږ وخت وروسته افغانستان ایکسپریس انګلیسي ژبې ورځپاڼې د(جاوید اهوا) لیکنه خپره کړه، چې لیکلي یې وه، داعش او طالبان په خپلو بیرغونو کلمه طیبه لیکي، او له خپل یوه الله پرته نور ورته د منلو نه دي، د اهوار په باطل اند ، چې دا کار په نړۍ کې د تفاهم له مخې د ژوند تیرولو امکان له منځه وړي ؟!

د(اهوار) یا افغانستان ایکسپریس دې کړنې د ټول هیواد په کچه د مومنو هیوادوالو احساسات را وپاروله او پر وړاندې یې پراخ لاریون ونه وشول.

دعام ولس دې پراخ غبرګون د غربي ډیموکراسۍ تالي څټي وارخطا کړل لا تر ټینه ورکه شوله، د هشت صبح ورځپاڼې ولیکل، چې دا تندلاري توب ته هڅول دي او په ډیر جرات سره یې دا خبره وکړه، چې ځینې ډلې لکه داعش، طالبان، او..... د هیواد په پوهنتونو کې ځوانان توندلاری ته هڅوي.

د هیواد په چاپې رسنیو کې د دا ډول مضمونو چاپ او خپرولو مې دې ته پام کړ، چې مونږ خو د بي بي سي رسنۍ ژړله چې په څومره سپین سترګي توب سره د یو ریښتیني دین شعایر او مقدسات د بیان د آزادۍ پر وړاندې کم ارزښته په ګوته کوي، اما دا مو په ذهن کې هم نه راتېریده، چې یو وخت به په خپل هیواد کې چې له ۹۹ سلنې زیاد اوسیدونکي یې مسلمان دي داسې په بې باکۍ سره به دا بحثونه مطرح شي.

هو دا ډول کړنې د یوې نوې څپې د منځ ته راتګ پیغام له ځان سره لري، که خدای مه کړه خپل مسولیت په سمه توګه سرته ونه رسوو نو په ډیر نیژدې وخت کې به د دې شاهدان یو چې دا لړۍ به دوام مومي او مونږ به ورته په رنو سترګو ګورو.

په هېواد کې دا نوې راپورته شوې څپه به په لومړي قدم کې هغه بندونه له مخې لرې کوي، چې شتون یې ډیر ورته خطرناک دی او څه کمبودی هم لري ورپسې به هره اسلامي ډله نقد کوي او په پای کې به یې د له منځه وړلو هڅه کوي.

بدلون ته اړتیا!

کوم بدلون ته اړتیا؟ دې مو ته باید پام وي، چې کله د کابل اداري له غربي هیوادونو سره اوږدمهاله ستراتیژیک تړونونه لاسلیک کوي، او ورځ تر بلې په غربي خم کې رنګ شوي رون اندي له بیلابیلو لارو څخه په ګټه اخیستلو سره مطرح او د واک واګې په لاس کې اخلي ،نو د

دا ډول سیالي ډګر به په هیواد کې نور هم تودیږي ، یو څه چې د اندیښنې وړ دي، هغه دادي، چې د غربي آزادي سرینده غږونکي په ډیره سیستماتیکه توګه په پوره زغم سره دا سیالي مخ پر وړاندې وړي ، چې د دوی دا مبارزه به د افغانستان په څېر یوه هېواد کې چې د زده کړې کچه په ځانګړې توګه د دینې زده کړو کچه ډیره ټیټه ده ، ډیره خطرناکه ثابته شي او کیدای شي له ببلا ببلولارو او وسیلو څخه په کار اخیستلو سره ځوان کهول په ځان راټول کړي.

له بل لوري خطرناکه خبره داده ، هغه څوک چې په غربي خم کې د رنګ شویو رونړ آندو د نظریو پروړاندې مبارزه کوي .ډیرې ستونزې لري باید یو ځل بیا فکر وکړي او په رښتو سترګو خپله مبارزه پرمخ یوسي موخه مې اسلامي ډلې یا هم اسلامپال دي.

اسلامپال بدلون ته اړتیا لري ! بدلونونه په ډیرو برخو او کړنو کې راتلای شي، اما دلته زمونږ موخه هغه بدلون دی چې زیاتره اسلامپالې ډلې ترینه ځوریږي او راوستل یې هم آسانه دي.

هغه بدلون یو د بل پر وړاندې له مخالفت څخه لاس اخیستل، یو څه چې د یوه مسلمان په توګه ترینه ځوریږم ،هغه د اسلامي ډلو ترمنځ اختلافات دي ،اختلاف خو حتمی دي ،خو هغه چې یو پربل نقد وشي او د یوه مسلمان په توګه یې ستونزې او مشکلات ورته په ګوته شي اما د اسلامي ډلو تر منځ کله ناکله خبره د دښمنۍ تر سرحده رسیږي. ټول امکانات او ځواک یو دبل په حذفولو او ناک مولو لګوي خو دې ته مو پام وي چې په هیواد کې

اسلامپالو ډلو ته ستر کار او مبارزه لا پر وړاندې پرته ده اوډا مبارزه یوه ډله او یو ګروپ پر مخ نه شي بیولای ترڅو چې ټولې اسلامي ډلې یوبل ته لاس ورنه کړي؟، یو دبل مرسته ونه کړي او یوبل ته درناوی ونه لري، نو په راتلوونکی کې به ټولې اسلامي ډلې او اسلامپال له ډیرو جدي ستونزو سره مخ کیږي، چې هغه وخت به بیا ارمان کول کومه ګټه ونه لري.

لیکوال: مصرۍ مفکر، ډاکټر محمد عماره

په اسلامي نړۍ کې د امریکا د جګړې موخه

ژباړن: ذاکر جلالي

د امریکا پخوانی ولسمشر، جورج بوش لومړنی کس و، چې د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر د یوولسمې له پېښو وروسته یې د «ترهګرۍ ضد» جګړې خبره وکړه، بې له دې چې د دې ښکارندې څرنګوالی او تعریف وړاندې کړي. هغه مهال بوش له «سپېڅې صلیبي حملې» څخه پرده پورته کړه او له هغې وروسته امریکا پر افغانستان او بیا پر عراق بریدونه وکړل او د دغو پېښو په منځ کې جوته شوه، چې له ترهګرۍ د امریکا موخه هماغه اسلام دی؛ هغه اسلام چې له لوېدیز ماډرنیزم، سیکولریزم او په ځانګړې ډول له لوېدیز ارزښتونو سره مخالف دی. د امریکا مخکښ مفکر، فوکویاما د «نیوزویک» مجلې په کلنۍ ګڼه کې (ډسمبر ۲۰۰۱ – فبروري ۲۰۰۱ (ولیکل: «نه شو کولای اوسنۍ جګړه په همدې ساده ګۍ سره د ترهګرۍ ضد وګڼو، بلکې دغه جګړه د بنسټپالې اسلامي ګروهې (عقیدې) پر ضد ترسره کېږي چې د ماډرنیزم او سیکولر حکومت پر وړاندې راپورته شوې ده او د اسلامي بنسټپالنې ګواښ د کمونیزم په پرتله څو برابره زیات دی. موږ ښایي جګړه اسلامي هېوادونو ته پراخه کړو تر څو مسلمانان لوېدیز ماډرنیټي او سیکولریزم ومني او د مسیحیت له دې اصل سره چې «د قیصر چارې قیصر ته او د خدای چارې، خدای ته وسپارئ» سره موافقه وکړي. د امریکا پخوانی ولسمشر، نیکسن د «فرصت» کتاب کې د اسلامي بنسټپالنې په تړاو د امریکا د مفهوم په باب لیکي:

»بنسټپالي د اسلامي تمدن بیاراپورته کېدا او د اسلامي شریعت پلې کېدا غواړي، تر څو اسلام د دین او دولت اساس او ریښه وګرځوي او که تاریخ ته وګوري، تېر د راتلونکي د لارښوونې سرچینه ګڼي؛ نو له دې امله دوی محافظه کاران نه دي، بلکې انقلابیان دي». دغو شاهدیو پسې د انګلستان پخوانۍ لومړۍ وزیره، مارګریټ ټاچر وایي: «د اسلامي ترهګرۍ پر ضد مبارزه ټول مسلمانان رانغاړي، ان هغوی چې د سپټمبر یوولسمې پېښې او بن لادن او طالبان یې هم نه منل .

دغه خطر ټول هغه خلک رانیسي، چې د لوېدیز ارزښتونو مخالف دي او د هغوی ګټې د لوېدیز له ګټو سره په ټکر کې دي». برنارد لویس د نیوزویک مجله (ګڼه ۱۴مه، جنوري، ۲۰۰۴کال) کې لیکي» :ترهګري نن د لوېدیز او اسلام د اوږده کشمکش یوه برخه ده.

د اسلام پر بنسټ اخلاقي نظام له لوېدیز لارښوونو سره چې مسیحیت او یهودیت څخه اخیستل شوي دي، توپیر لري او دغه د دینونو ترمنځ جګړه ده». د امریکا د ۲۰۰۰ کال ټاکنو ته نوماند، سناتور جوزف لیبرمن وایي: «د اسلامي او عربي هېوادونو په تړاو بله لار نه لرو، بې له دې چې امریکا خپل ارزښتونه او سیاستونه چې اړین یې بولي، پر هغوی په زور وتپي.

هغه شعارونه چې امریکا له خپلواکۍ راهیسې پورته کړي دي، د دې هېواد (امریکا) پولو پورې نه شي محدودېدای، بلکې نورو هېوادونو ته هم د لېږد وړ دي.«

د ترهګرۍ پر ضد د امریکا د جګړې حقیقت دغه شی دی، چې د دوی په خپلې شاهدۍ د اسلام پر ضد جګړه ده. ټامس فریډمن، امریکایي ورځپاڼه لیکونکی پر افغانستان د امریکا د یرغل پر مهال د پاکستان له پېښوره نیویارک ټایمز ته لیکي: «په اسلامي سیمو کې باید اصلي جګړه له مدرسو پیل شي: له همدې امله ښایي په ډېرې چټکۍ سره خپلې نظامي حملې پای ته ورسوو او له نوو مدرسه یي کتابونو له وسلې سره د یوه نسل د روزنې په موخه بیا میدان ته وګرځو؛ داسې نسل چې زموږ سیاستونه داسې ومني، لکه سنډویچ چې خوري. و تر هغو دغه مهم عملي نه شي. د مسلمانانو په منځ کې به دوستان ونه لرو.«

له هغې وروسته چې امریکا د مالي سرچینو او دیپلوماتیکو فشارونو له لارې وتوانېده چې په پاکستان او یو شمېر نورو اسلامي هېوادونو کې د مدرسو درسي پروګرامونه بدل کړي، د هرالډ ټربیون نړیوالې ورځپاڼې د «ستانلي الف فایس» امریکایي لیکول مقاله خپره کړه، چې اسلامي نړۍ ته د حل لارو په توګه وړاندیزونه کړي وو:

یو له هغو حل لارو د امریکا په خوښه اتاترکي سیکولریزم د اسلامي بنسټپالنې پر ځای وه. دی لیکي: «د ترهګرۍ ضد جګړې حقیقت دې ټکي پورې تړلې ده، چې یا اسلامي هېوادونه به د ماډرن او سیکولر هېواد په توګه د ترکیې پلیوني شي او که لا به هم د اسلامي بنسټپالنې د ماډل پیروي کوي؟

د ترهګرۍ ضد د امریکا جګړه چې په نړیواله کچه پلې شوې ده او په دې برخه کې یې ازادي غوښتونکي ملي ځواکونه د خپلو نظامي، فکري او رسنیزو حملو سر کې په نښه کړي دي؛ یعنې ټول هغه کسان چې له لوېدیز فرهنګي ماډل څخه د اسلامي ختیځ د فرهنګي خپلواکۍ لپاره مبارزه کوي. اوس غربي شاهدانو هم دا مسئله رڼه کړې ده، چې د دوی جګړه د اسلام پر ضد ده.

د ترهګرۍ ضد د امریکا جګړه چې په نړیواله کچه پلې شوې ده او په دې برخه کې یې ازادي غوښتونکي ملي ځواکونه د خپلو نظامي، فکري او رسنیزو حملو سر کې په نښه کړي دي؛ یعنې ټول هغه کسان چې له لوېدیز فرهنګي ماډل څخه د اسلامي ختیځ د فرهنګي خپلواکۍ لپاره مبارزه کوي. اوس غربي شاهدانو هم دا مسئله رڼه کړې ده، چې د دوی جګړه د اسلام پر ضد ده.

دا هغه اعترافونه او حقیقتونه دي، چې ښایي زموږ لنډپاري ترې خبر شي او هغه چې ناخبره دي لا یې هم امریکایي معبود پورې زړونه تړلي دي، باید نور ویښ شي؛ دا هغه امریکا ده چې خپل اقتصاد یې د افریقایي غلامانو پر ملاوو ودراوه او د ازادۍ په نامه یې له هیروشیما نیولې تر ویتنامه یې په ټوله نړۍ کې ولسونه ووژل. له هغې نېټې راهیسې امریکا بې شمېره جنایتونه کړي دي او ډېر ملتونه یې نابود کړي دي. د افغانستان، عراق، سوریه او فلسطین پر ملتونو امریکا څه نادودې ونه کړې. اروپایي هېوادونه او په سر کې یې انګلستان او د اسلام پر ضد یې پخوانۍ کینه زموږ نه ده هېره، چې د صلیبي حملې پر مهال د چارلز قلب فار په مشرۍ یې د اسلام پر ضد څه جنایتونه ترسره کړل. بنا پر دې هغوی تر هغې ارام نه کېني، چې د خلیج ټول حکومتونه له پښو وغورځوي!

یادونه: د ډاکټر عماره پورته مقاله له فارسي راپښتو شوې ده

په هلمند کې څه تیریږي؟

سمیع الله

هلمند یو دافغانستان له هغو ولایاتو څخه دی چې جهادي عملیات په کې په خورا بریالي ډول جریان لري، دپخوا غوندې سړکال هم دا ولایت د مهمو جهادي پیښو شاهد و ،په دې لړ کې که له یوې خوا په دې ولایت کې په داخلي عسکرو او اربکیانو باندې مجاهدینو ځپونکي بریدونه ترسره کړل او د اربکیان ټغر یې ددې ولایت له زیاترو سیمو ټول کړ، له بلې خوا برتانوي یرغلګر چې دا سیمه یې خپله تلپاتې مستعمره بلله، هم یې په رسمي ډول له شکست منلو وروسته له دې ولایت څخه تیښته وکړه.

څو ورځې وړاندې مې دهلمند ولایت له مرستیال والي ملا محمد داود مزمل سره لیدنه درلوده ، نوموړي سړکال ډیره موده د هلمند په ولایت کې په جهادي سنګرونو کې تیره کړې ده او د مجاهدینو پرمختګونه یې په خپلو سترګو لیدلي دي،نوموړي په هلمند کې د سړکال د مهمو جهادي عملیاتو په اړه راته وویل:

سړکال د هلمند ولایت خصوصا ددې ولایت شمالي ولسوالۍ لکه ګرشک، سنګین، موسی کلا ، نوزاد او کجکی د سترو جهادي بریاوو شاهدې وې، په دې ولسوالیو کې چې موږ کوم د خیبر عملیاتو په لړ کې کوم عملیاتي اهداف درلودل هغه لله الحمد زموږ تر توقع په لوړ شکل ترلاسه شول.

تر ټولو ستر هدف د سنګین د څاروان کلا سیمه وه، دا ډیره ستره سیمه ده چې د سنګین ولسوالۍ له دریو دوه برخې تشکیلوي، مجاهدینو په دې سیمه چې پخوا د دښمن تر ولکه لاندې وه عملیات پیل کړل، زه خپله د عملیاتو په صحنه کې وم، د عملیاتو په لومړیو دوو ورځو کې د دښمن تر شلو زیاتې پوستې فتحه شوې او تر ۲۰ زیات کسان یې ووژل شول، وروسته د عملیاتي بهیر په لړ کې دا سیمه مکمله ازاده شوه، باید ووایم چې همدا اوس یوازې

دسنګين ولسوالي په مرکز او دعامه سرک په سر پوستو باندې دښمن حضور لري ،نور د ساروان کلا پراخه ناوه مکمله د مجاهدينو په ولکه کې ده ،دسنګين د بازار په څو سوه متري کې مجاهدين اوسي او دښمن يې محاصره کړی ،د سنګين دمرکز سره نښتې د شکرشيلې په نامه سيمې ته زه خپله ورغلم ،په دې سيمه کې هم مجاهدين پراخ حضور لري همدلته مې د عام سرک په سر د دښمن ۱۱ تخريب شوې شوبلې چې تراوسه په سرک پرتې په خپلو سترګو وليدلې چې د دښمن په درانه شکست يې شاهدي ويله ،د څاروان جنګ چې په مطبوعاتو کې هم لوی جنګ تعبير شو واقعا مهم جنګ و چې مجاهدينو دالله تعالی په نصرت وګاټه ، د دې جنګ دبررسۍ لپاره د دښمن د دفاع وزير بسم الله خان ،لوی درستيز شيرمحمد کريمي ،دهلمند والي ، امنيه قومندان او نور لوی چارواکي سيمې ته راغلل ،دغه راز يې له مختلفو قول اردوګانو څخه بيا بيا ځواکونه راوستل ، خو لله الحمد دښمن سخت شکست وخوړ ، د څاروان کلا سيمه مکمله تر خلاصه شوه او اوس دوی په وطن کې هيڅ حضور نلري ، يوازې په دښته کې په تير شوي سرک باندې پوستې لري ، بايد ووايم چې له ډيرې مودې مجاهدينو د کجکي په خوا غځيدلی سرک د څاروان کلا په حدود و کې بند کړی دی ، د دې لارې په امتداد کې د سرو پوزې له سيمې بيا تر ګرماو پورې لويه لاره د مجاهدينو په لاس کې ده ،او اوس کجکي ته اکمالات نه شي کولای.

د څاروان کلا د فتحې غوندې مجاهدينو په موسی کلا کې هم لوی فتوحات درلودل ، د دې ولسوالي شيخ علي ، ده غوچک او داسمانيانو پراخې علاقې فتحه او د دښمن له شتون څخه پاکې شوې په موسی کلا کې هم دښمن يوازې په مرکز کې محصور پاته دی ،په نوزاد کې دباغو سيمه چې د نوزاد اصلي او مهمه علاقه ده ، سږ کال مجاهدينو فتحه کړه ،په دې سيمه کې د دښمن ۹ غټې پوستې او قرارګاوې له منځه يووړل شوې او مجاهدينو په سيمه کنترول تر لاسه کړ ،د ګرشک په ولسوالي کې هم سږ کال دښمن سخت وټکول شو ،د دې ولسوالي په کومو سيمو کې چې دښمن پاته و ، لمن يې ورټوله شوه او د مرکز په خوا مجاهدينو پرمختګ وکړ ،د ګرشک په نهرسراج کې ۱۵ ، په حيدراباد کې ۱۳ او په ده ادم خان کې ۱۰ پوستې مجاهدينو فتحه کړې ، د اولس ميشته سيمو له جملې د ګرشک لسمه برخه سيمه چې د مرکز شاوخوا سيمې دی د دښمن تر ولکه لاندې پاته ده نورې سيمې ازادې شوي دي ، په ګرشک کې دښمن اوس يوازې په هماغو سيمو کمربند راګرځولی چې د کمونيستانو په وخت کې د ډاکټر نجيب د حکومت دفاعي کمربند وربانديې پروت و او د ګرشک مرکز يې ساته ، دوی هم اوس په

عيني وضعيت کې دي او يوازې په هماغو سيمو کنترول لري، خو د ګرشک په مربوطاتو کې په لويو لارو هم د دښمن پوستې موجودي دي.

له دې علاوه د هلمند په نورو سيمو کې هم سخت مجاهدينو د پام وړ لاسته راوړنې درلودې، په مارجه کې د تريخ ناور، سيستاني او ځيني نورې سيمې چې امريکايانو د مارجې دلويو عملياتو په لړ کې اشغال کړې وې بيرته مجاهدينو ونيولې، په خانشين، کجکي او نورو ولسوالیو کې په دښمن درانه بريدونه ترسره شول، په توله کې په هلمند کې د مجاهدينو د سړکال برياوې له توقع لورې او د پام وړ وې.

ملا محمد داود مزمل په هلمند کې د جهادي عملياتو په لړ کې د ځينو نادرو او عجيبو عملياتو يادونه هم وکړه، په دې لړ کې د مجاهدينو لخوا ترځمکه لاندې د دښمن امنيتي مراکزو ته ځان رسول او بيا انفجار ورکول د يوه بريالي تاکتيک په حيث د يادونې وړ دی، دا تاکتيک اول وار په لومړني نړيوال جنګ کې کارېدلی و، کله چې د بلژيک په حدودو کې د متحدينو قواوو د المانې ځواکونو د لومړي خط تر پښو لاندې ځمکې ته تونلونه ورتير کړل، دوی د المانې ځواکونو تر پښو لاندې په ۱۹ تونلونو کې ۴۱۰ ټنه منفجره مواد ځای په ځای کړل او بيا يې په يوځل انفجار ورکړ او په دې توګه يې د زرګونو المانې ځواکونو په وژلو المان ته درونده زيان واړاوو.

له هماغې پېښې د دی سل کاله وروسته په هلمند کې مجاهدين هم له همدا سې عجيبو تاکتيکونو استفاده کوي چې د دښمن ته په کې درانه تلفات اوړي، ملا محمد داود مزمل وايي: سړکال د ځاروان کلا په جنګ کې د دښمن د پوځ دوه پاخه مرکزونه چې دفاع يې قوي وه، مجاهدينو په ډير عجيب تاکتيک له منځه يووړل، مجاهدينو له يونيم سل مترە لرې مسافې څخه دغو دواړو مرکزونو ته تر ځمکه لاندې تونلونه ورتېر کړل چې دا يو سخت او ستړی کوونکی کار و، وروسته يې د دې مراکزو لاندې تونلونه له بارودو ډک کړل، او تقريبا له ۱۰۰۰ څخه تر ۱۲۰۰ کيلوګرامه چاودېدونکي مواد يې په کې ځای په ځای کړل، کله چې په ځاروان کلا عمليات پيل شول، مازديګر مهال د دښمن دغو مراکزو ته چې دوی خوندي بلل، هم انفجار ورکړل شو، د درنو چاودنو له املې مراکز په بشپړ ډول له منځه لاړل يوازې په يوه مرکز کې يوه برج روغ پاته شو او کيدای شي کوم عسکر په کې ژوندی پاته شوی وي، نور دغه مراکز مکمل تباه شول او د دې حيرانوونکي بريد دښمن له سختې وارخطايي سره مخامخ کړ.

تردې وروسته د موسی کلا د شیخ علی او ده غوچک سیمې ته ځیرمه ددښمن د پولیسو یوه لویه قرارګاه هم مجاهدینو په همدې تاکتیک له منځه یووړه، هغه قرارګاه ته مجاهدینو ۲۰۰ متره تونل ورتیر کړی و او تقریبا یوه نیمه میاشت کار یې په کې کړی و، چې وروسته یې په درانه انفجار سره قرارګاه په یو مخیز ډول له منځه یووړه او په دې توګه داسیمه په بشپړه توګه مجاهدینو ته په لاس ورغله.

په هلمند کې د سرکال بله مهمه پیښه له دې ولایت او ټول افغانستان څخه دبرتانوي اشغالګرو بشپړه تیښته وه، برتانویانو د روان کال د اکتوبر دمیاشتې په ۲۲ مه ددې ولایت په شوراب پوځي اډه کې خپل بیرغ رسما راکوز کړ او په ټیټو سترګو یې د تیښتې لارونیوه د برتانویانو تیښته له دې امله یوه تاریخي رویداد دی چې دغه یرغلګر هیواد تردې وړاندې هم دری ځله په افغانستان کې شکست خوړلی و، چې دا دی په څلورم ځل یې د شکست تراخه وځکل او دشرم له پیټې سره یوځای یې دزمریالیو له تاتوبي پښې سپکې کړې.

دجهاد فقهي مسائل

جهادکې محرمات او مکروهات

پنځلسمه برخه

غدر، غلول، مثله

مفتی ابومحمد(حقاني)

دغدر او غلول څخه وروسته دادی، دمثلې بحث ته رسیږو ،دلته به داروښانه کړو ،چې مثله څه شئ دی ،تشریعي حکم یې څه دی ،دنسخ په باب یې کوم مرویات رانقل شوي دي،دکفارو دسرغوڅول او یایې مخ تورول هم مشروعیت لري او فقهاء پدې باب څه وایې ؟.

مثله دپوزې ،غوږ ،ژبې ،لاس اوپښودپریکولو په ځیر دانسان دبدن نورو غړو غوڅولوشنیع او بد عقوبت ته وایې ، د(مختصر لقدوری)په شرح (الجوهرة النیرة)کې لیکي چې :((وَلَا يُمَثَّلُوا) وَهُوَ أَنْ يَقْطَعُوا أَطْرَافَ الْأَسَارَى أَوْ أَعْضَاءَهُمْ كَالْأُذُنِ وَالْأَنْفِ وَاللِّسَانِ وَالْأُصْبُعِ ثُمَّ يَقْتُلُوهُمْ أَوْ يُخَلُّوا سَبِيلَهُمْ وَقِيلَ هُوَ أَنْ يَقْطَعُوا رُءُوسَهُمْ وَيَشُقُّوا أَجْوَافَهُمْ وَيَقْطَعُوا مَذَاكِيرَهُمْ وَهَذَا كُلُّهُ لَا يَجُوزُ وَإِنَّمَا تُكْرَهُ الْمُثْلَةُ بَعْدَ الظَّفَرِ بِهِمْ أَمَّا قَبْلَهُ فَلَا بَأْسَ بِهَا(الجوهرة النیرة شرح مختصر القدوری ج۷ص۱۰۷))ژباړه :اودا مجاهدین به مثله نه کوي .مثله داده چې، دبندیانو اطراف (لاس وپښې)او نورغړي لکه پوزه ،غوږ .ژبه اوګوتي ترې غوڅې کړي ،بیا یې ووژني اویا یې خوشي کړي ، ځینو علماوو ویلې چې مثله داده چې : دبندیانوڅخه سرونه غوڅ کړي ،خیټې یې ځیرې او.....یې پرې کړي ،چې دایو هم جواز نه لري ،مثله هغه وخت مکروه ده، چې پر دښمن برلاسی ومومندل شي (اسیران شي).خو که ددې نه مخکې وي ،بیاباک نلري .دعلامه المرغیناني رح د(هدایه) کتاب په شرح (العنایه)کې لیکي :چې مثله دې ته وایې ،چې دمثله شوي شخص مخ په سکرو یا بل شئ باندې تور کړي ،یا یې پوزه غوڅه کړي او یایې په نورو طریقو بدرنګ کړي ...لکه چې دې عبارت کې لیکي :((وَالْمُثْلَةُ الْمَرْوِيَّةُ) يُقَالُ مَثَّلْتُ بِالرَّجُلِ أُمَثِّلُ بِهِ مَثْلًا وَمُثْلَةً إِذَا سَوَّدْتَ وَجْهَهُ أَوْ قَطَعْتَ أَنْفَهُ وَمَا أَشْبَهَ ذَلِكَ .(العنایة شرح الهدایة ج۷ص۴۵۱)

په (الموسوعة الفقية) کې ليکي :چې دې ته (مثله) هغه مهال ويل کيدای شي، چې پيل يې دده لخوا وشي ،که چيرته کوم کس پريوه قوم همداسې تجاوز وکړ او هغوئ دده څخه دبدن داغړي پرې کړل، دې ته مثله نه بلکې قصاص وايي .

داسلامي فقه مشهورو کتابونوليکلي: چې فقهاء في الجمله وايي ،چې ابتداءً دژوندي مثله کول حرام دي ،او همداسې دمثلې دحرمت حکم دمړه انسان هم دی، لکه چې همدا مسئله دې لانديني وکتابونوکې هم ليکل شوي ده :(المبسوط ۱۰ / ۵ وتبيين الحقائق ۳ / ۲۴۴ وجواهر الإکليل ۱ / ۲۵۴ .).

دمثلې دحرمت دثبوت لپاره لانديني روايات فقهاوو رانقل کړي دي، چې مونږ به يې داختصار له امه څو روايتونه دلته رانقل کړو(رَوَى عمرانُ بنُ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ : قَالَ : " كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحُثُّنَا عَلَى الصَّدَقَةِ . وَيَنْهَانَا عَنِ الْمُثْلَةِ " (أبو داود (۲ / ۱۲۰)ژ :عمران بن حصين رضی الله عنه روايت کوي ،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به مونږصدقې ورکولو ته هڅولو .و له مثلې څخه به يې منع کولو.

همدسې د(سنن ابن ماجه) په يوصحيح روايت کې صفوان بن عسال رضی الله عنه فرمايي : چې : بَعَثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ فَقَالَ : سِيرُوا بِاسْمِ اللّٰهِ وَفِي سَبِيلِ اللّٰهِ ، قَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ وَلَا تُمَثِّلُوا (أخرجه ابن ماجه (۲ / ۹۵۳)ژ: مونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم په سريه کې وليږلواوراته به يې وفرمايل چې :څئ دالله ج په نوم او دالله تعالی په لاره کې ،څوک چې په الله تعالی کفر کوي ورسره وجنګيږئ او مثله مه کوئ !

هشام بن زيد وايي : چې زه دحضرت انس رضی الله عنه سره (حکم بن ايوب) ته ورغلم.نوده ماشومان او زلميان وکتل ،چې په چرګه يې نښه ويشتله ،نو انس رضی الله عنه ورته وفرمايل : چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې څخه منع کړي ،چې حيوانات دې لپاره ودرول شي چې خلک پرې نښه وولي !

وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ قَالَ : لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَثَّلَ بِالْحَيَوَانِ (أخرجه البيهقي (۹ / ۸۷)) .

ژ: او حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمايي چې حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغه چا لعنت ويلی، چې هغه حيوان مثله کوي . داحنافو فقهاوو په شمول نور عام فقهاء وايي : چې پر کفاروله تسلط او غلبي وروسته چې داسارت په حالت کې کوم کافروي. ددوې مثله کول حرام کار دی اوپه اسلامي شريعت کې ددې کوم ډول جواز اوس ندی پاتې بلکې دا حکم منسوخ شوی دی .خو پر دوئ له تسلط او قدرت څخه مخکې که په جګړه کې ددوئ دبدن کوم غړی غوڅ شو، نو داباک نلري ،مثله داده ، چې دبدن اطراف (لاس اوپښې)يې پرې کړي ،سترګې ترې وباسي ، خيټه يې څيرې کړي ،ګوتې يې پرې کوي ،پوزه ،غوږونه يا هم ژبه يې غوڅه کړي .....دا ډول تعذيب دکفارو پداسې حال کې چې دمسلمانانو او مجاهدينو په لاسونو کې وي نا روا دی ، لکه چې همدا تفصيل په دې لانديني معتمدو فقهي کتابونوکې راغلی دی : (حاشية ابن عابدين ۳ / ۲۲۴ ، وتبيين الحقائق ۳ / ۲۴۴ ، وجواهر الإکليل ۱ / ۲۵۴ .)

هو!

داسلام په په لومړيو کې چې د (عرنيينو) کومه پيښه دهجرت په شپږم کال پيښه شوي وه ،او په احاديثو کې په تفصيل سره را نقل شوي ده ،چې دې خلکو درسول الله صلى الله عليه وسلم (دصدقاتو دمالونو)شپانه قتل او بيا مثله کړل،اوښان يې له ځانونو سره بوتلل، او له املې يې رسول الله صلى الله عليه وسلم د(عرينه) قوم ددې استازوڅخه پښې ،لاسونه غوڅ او سترګې يې ترې را ويستلې، نو فقهاء وايي، چې ددې نه وروسته دا منسوخ شوه او رسول الله صلى الله عليه وسلم له مثلې څخه منع وکړه ،لکه د(هدايه) شرح (العناية) کې چې ليکل شوي ده :

وَقِصَّةُ مُثْلَةِ الْعُرَنِيِّينَ مَشْهُورَةٌ وَقَدْ انْتُسِخَتْ بِالنَّهْيِ الْمُتَأَخِّرِ . رَوَى عِمْرَانُ بْنُ الْحُصَيْنِ {أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قَامَ فِينَا خَطِيبًا بَعْدَمَا مُثِّلَ بِالْعُرَنِيِّينَ إلَّا كَانَ يَحُثُّنَا عَلَى الصَّدَقَةِ وَيَنْهَانَا عَنْ الْمُثْلَةِ} فَتَخْصِيصُهُ بِالذِّكْرِ فِي كُلِّ خُطْبَةٍ دَلِيلٌ عَلَى تَأْكِيدِ الْحُرْمَةِ .(العناية شرح الهداية ج٧ص٤٥١)

همداسې د(عمدة الاحكام په شرح احكام الاحكام ج٣ص٨٦)کې راغلې دي، چې (وَقَالَ قَالَ ابْنُ شَاهِينٍ : هَذَا الْحَدِيثُ يُنْسَخُ كُلَّ مُثْلَةٍ كَانَتْ فِي الْإِسْلَامِ ،)يعنې دې حديث دمثلې جواز منسوخ کړ او نور دمثلې دجواز حکم ندی پاتې .

نوربيا.....

پروفيسر يګاساکي چې د جاپان د اوکيناوا په ښار کې يو پيژندل شوی پوه دی. د ۲۰۰۳ په اکتوبر کې د المان په هامبورګ ښار کې يو نړيوال کنفرانس ته وويل چې امريکايانو په افغانستان کې ۴۴۰۰۰۰ پوندې خنثی شوي يورانيم کارولي دي. دده د ټکل پر بنسټ خنثی شوي يورانيم په افغانستان کې تر جاپانه چې د دوهم نړيوالې جګړې پر مهال په کې کارول شوي و. ډير استعمال شوي.

ميرمن لارين ماريت چې د کليفورنيا په نامتو لابراتوار کې يې د اټومي وسلو په جوړولو کې دنده ترسره کړې د توکيو په نړيوال جنايي تريبون کې د يګاساکي راپور يې تاييد کړ د ټولې نړۍ په وړاندې يې په ډاګه کړه چې ددې سترو بشري جناياتو پره او مسؤليت د امريکي د ځواکونو په غاړه دی او بايد ټوله نړۍ او بشريت ددې جناياتو او مرګ ژوبلې پوښتنې د بوش دواکمنۍ څخه وکړي.

بايدووېل شي چې خنثی شوي يورانيم ۲ بليونه کاله ژوند لري او کومې ناروغۍ چې ددې وژونکي عنصر له وجې پيدا کيږي هغه د سرطان. لکوميا. اټيزم، د ماغزو او د بدن د نورو غړو معيوبي او د دايميون د سيستم کمزوري ده

داسلامي شعايرو سپکاوی

که د غرب پلوم رسنيو پلان شوي کړنلارم؟

محمد شعيب

په هېواد کې د بهرنيو پوځي قواوو د شتون ۱۴ کلنه دوره کې په وار وار او له مختلفو لارو اسلام او اسلامي مقدساتو ته په مختلفو پلمو او نومونو سپکاوی شويدی. چې دالړی لا تر اوسه هم روانه ده چې وروستی نمونه يې په (The Afghanistan Express) ورځپاڼه کې د احمد جاويد احوار (A.J.Ahwar) په نامه يو کس چې نيم بېسواده (The Islam of Taliban and ISIS) تر سر ليک لاندې يوه کفري ليکنه کړې ده، چې پر اسلام، الله او د اسلام د ستر لارښود رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ذات يې تېری کړی دی، چې داسې ليکنه به په غربي هېوادونو کې هم اکثره رسنۍ نشر نه کړي، ځکه چې يو خو دا يو بېسواده کس له لوري په ډېره ضعيفه توګه ليکل شوې ده، بل داچې د اسلام پر مبارک دين، (چې دنړۍ د شاوخوا ۲ ميليارده وګړو دين دی) داسې برېنډ او بې شرمانه تېری شوی دی چې د افغانستان په تاريخ کې ساری نه لري.

ليکنه له لومړي توري تر وروستۍ کلمې پورې ټوله يوه توهين پاڼه ده چې په وار وار اسلام او اسلامي شعايرو ته پکې سپکاوی شوی دی.

که څه هم يادې ورځپاڼې د دې ليکنې د نشر په اړه ښه غوښتې ده، خو پوښتنه داده چې داسې ليکنه يوه معتبره ورځپاڼه څنګه خپروي، ځکه چې لومړی خو يې ليکنيز او ادبي کچه ډېره ټيټه ده او په هېڅ ډول په يوه ورځپاڼه کې دنشر وړ نه ګڼل کېږي، بل داچې تر ټولو غټه خبره چې افغانستان د ملت عقايدو ته پکې سپکاوی شوی دی، د هغه ملت دين ته چې دهغې دين لپاره يې تر يونيم ميليون زيات وګړي قربان کړل او خپل هر څه يې له لاسه ورکړل.

ددې لیکنې لیکوال لیکي: "د طالبانو او ISIS (داعش) په ډیر غونډو لیکل شوي چې الله یو دی او محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله پیغمبر دی، یو الله او یو پیغمبر، دا ډېره دلچسپه خبره ده چې که څوک اسلام راوړي، نو دا به مني چې یو الله شتون لري او نور خدایان د منلو ور نه دي. هر مسلمان عقیده لري چې د مسیح، پلار (Father) او میرۍ (مریم) د خدای په صورت کې د منلو ور نه دي، یوازې د مسلمانانو خدای موجود دي. نو واضح شوه چې بیا خو تفاهم ته اړتیا نشته، د نورو د عقایدو نه منل او انکار د ناامنۍ او په نړۍ کې د تبعیض سبب ګرځي، چې دا یو غیر انساني طرز تفکر دی، مسلمانان وایي چې هر چاته هر چیرې د اسلام لار پرانستې ده خو کله چې مسلمان بل دین غوره کړي، نو د مسلمانانو له نظره دا کار د منلو نه دی."

ټوله لیکنه له داسې خبرو ډکه ده چې څوک به ګومان هم ونه کړي چې دا لیکنه دې د افغانستان په یوه ورځپاڼه کې، چېرته چې حکومت یې ځان اسلامي دولت بولي، نشر شوې ده، او داچې بیا تر اوسه هم هېڅ دولتي اړوند ارګان په دې اړه کوم اقدام ونه کړ ډېرې پوښتنې راولاړوي.

په دې کې شک نه شته او دا ټوله ته څرګنده ده چې دلته اکثره رسنۍ پر دې دي او لوبه موخه یې ډېر ډیو د کلتور او فرهنګ خپراوی او د اسلامي او افغاني فرهنګ ټکونه ده، چې تر اوسه یې په مقابل کې خلکو ډېرې چیغې وکړې، خو کوم ځای یې ونه نیوه، او دا څرګنده ده چې تر خوایې له بهر نیانو سره سره ځنې افغاني چارواکي هم ولاړ دي، او ننګه یې کوي.

نن سبا د غربي ډلو او ځنې خاصو کړیو ځان ته د پام راړولو لپاره تر ټولو آسانه لاره داده چې پر اسلام ملنډې ووهه او یاهم د الله تعالی پر ذات تېری وکړه، نو بیا به د تش په نامه د بشر د حقوقو ځنې کړی، او ځنې غربي هېوادونه میدان ته راودانګي او یوه لوبدلي او ناپوهه کس ته به داسې شهرت ورکړي چې د پوهې کچه به یې صفر وي او په ټولنه کې به له هره اړخه لوبدلې څېره وي.

یاده لیکنه هم د همداسې یو بې سواده کس له لورې لیکل شوې ده، چې که داسلام پر ضد خبره پکې نه وای، نو کیدای شي چې یادې ورځپاڼې ورته نه وای نشر کړي او دلیل به یې داوه چې ډېره ضعیفه لیکنه ده او املایي اړخ یې هم ډېر کمزوری دی.

خو داسلام پر ضد که هر بې سواده او اوباش څه ووایي او یا ولیکي نو دا خو څې شوې رسنۍ یې په ډېر ځور او شور سره نشر وي او غټ غټ سر لیکونه هم ورکوي، او بیا وروسته په لنډو ټکو کې ښکنه غواړي چې په هېڅ توګه دا دمنلو ور نه ده که چېرې داسې لیکنې چې د یو عادي شخص توهین پکې شوی وي دې ورځپاڼې او داسې رسنیو ته راشي، نو هېڅکله به یې هم نشر نه کړي، ولې د اسلام پر ضد او د الله تعالی اقدس ذات ته چې پکې سپکاوی شوی وي، نو که هغه لیکنه د یو بې سواده هم وي، بې له لیدو یې نشر وي. دا انټرنیټ په پاڼو کې له ډېر لټون وروسته موږ دې لیکنې د لیکوال په اړه یو څه تر لاسه کړل، چې په ښکاره توګه ښیي چې دا کس په هېڅ توګه لیکوال نه دی، بلکې یوازې ځنې فیسبو کې کر کجنې تبصرې

کوي چې هېڅ رسنۍ به د دې کس يوه ليکنه هم نشر نه کړي. دا کس چې AIESEC آيسک) نو دا روښانه ده چې د اکسپريس په څېر د پرديو په ډالرو چليدونکو ورځپاڼو ته د ده په ليکنه کې يوازې همدا مهم ؤ، چې پر اسلام او اسلامي شعايرو يې تېرې کړې دي. نو په هېڅ ډول د هغې ورځپاڼې ښنه غوښتنه د منلو ور نه ده او داسې رسنۍ بايد ژر تر ژره وتړل شي او چلونکي يې هم محکمې ته کش کړای شي. په اکثره ټلويزيوني چينلونو کې هم دالوبه روانه ده، او د کارپوهانو په نامه داسې کسان را غوښتل کېږي چې اسلامي شعايرو او حدودو ته توهين وکړي. که څه هم هغوی د اسلام نوم نه اخلي او لکه د راوا په څېر ځنې اسلامي شعاير طالباني دودنه ګڼي او توهين ورته کوي او دالوبه د امريکايي او غربي يرغل له لومړۍ ورځې روانه ده.

د Express ورځپاڼې وروستۍ ليکنه داسې يوه ګستاخي (بې ادبي) ده چې په هېڅ ډول د منلو ور نه ده. او په دې هکله بايد جدي قدمونه واخيستل شي او حکومت بايد پرېنږدي چې يوه ورځه خرڅه شوې ناپوهه ډله د ملت پر عقايدو ملنډې ووهي او داخل بايد د تېرو کراتو په څېر داسې ونه شي چې دا کسان لاهم مشهور کړای شي او په آخر کې يو بهرني غربي هېواد ته وليږل شي چې د دوی اکثرو د داسې کرونو اصلي موخه همداوي.

اوس به د دې کسانو لپاره يوځل بيا د تش په نامه د بشر د حقوقو ټولنې چيغې پيل کړي، هغه ټولنې چې د بې شمېره بې ګناه مسلمانو ماشومانو، ښځو او نارينه وو وينې خوږې هېڅکله هم ضمير نه راويښوي. خو که په کوم اسلامي هېواد کې يو بې سواده هوسګر د اسلام پر ضد کومه کرنه وکړي، د آزادۍ او بشري حقوقو تر نامه لاندې به سوړې انګازې جوړې کړي او تر دې چې د ملګرو ملتونو سرمنشي چې د غزې د سلګونو ماشومانو د وژل کېدو په اړه خو چوپه خوله وي، ولې په داسې خبرو کې بيا دې هم را ګډ شي، چې ددې بې سواده نوم ور کو لپاره د مشهور تيايوه بڼه وسيله شي. او دا کسان د همدې لپاره هم همدا توهين پاڼې ليکي.

څلور څوره کړنې

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: په تاسو کې نن چا روژه نيولې وه؟ ابوبکر رضى الله عنه وويل: ما. هغه وويل: په تاسو کې نن چا د جنازې لمونځ کړى ده؟ ابوبکر رضى الله عنه وويل: ما. هغه وويل: په تاسو کې نن چا مسکين ته ډوډۍ ور کړې ده؟ ابوبکر رضى الله عنه وويل: ما. هغه وويل: په تاسو کې نن چا د ناروغ پوښتنه کړې ده؟ ابوبکر رضى الله عنه وويل: ما. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: دا څلور کارونه چې په يوه ورځ کې ځوک وکړي هغه به خامخا جنت ته داخليږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه: أَنَا. قَالَ: فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه: أَنَا. قَالَ: فَمَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه: أَنَا. قَالَ: فَمَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا؟ قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه: أَنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ. أخرجه مسلم

فاتح افغان

پدې شپو ورځو دنړۍ په بېلا بېلو هیوادونو کې د اسلام په احکامو په ځانګړې توګه په حجاب باندې نیوکې او بندیزونه لګول کیږي چې په سر کې یې ائمة الکفر هیوادونه لکه روسیه، چین او فرانسه قرار لري، دوې ورځې وړاندې په ګران هیواد کې نصرانی لنډغرې رولا غنې هم د حجاب په اسلامي حکم نیوکه وکړه او د فرانس له لورې پرې دلګول شوي بندیز ملاتړ یې وکړ.

اوس پوښتنه دا ده چې کفر او صلیب، شرک او نفاق، الحاد او زندقت ولې په ګډه د حجاب په وړاندې سنګر نیولی؟

ولې په حجاب بندیزونه لګوي او نیوکې پرې کوي؟

ولې په زور او زر زموږ د پاک لمنو ښځو د پرونو لپړې کول غواړي؟

دا لنډغر فاحشان او د نفس او هوا بندګان ولې له موږ څخه د حجاب د دولت لوتل غواړي؟

ځواب ښکاره دی چې حجاب اسلامي شعار او هویت دی، حجاب ټولنه له فحشاء ژغوري، حجاب د زنا مخه نیسي، حجاب د ښځو حیاء ژوندی ساتي، حجاب د ښځو د پت او عزت ساتنه کوي.

وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَن تَمِيلُوا مَيْلاً عَظِيماً {النساء ۲۷}

ژباړه: شهوتونو پسې منډه وهونکي غواړي چې تاسې له دین څخه ستر انحراف وکړئ.

تفسیر جلالین د(الذِینَ یَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ) تفسیر په یهودو، نصاراوو، مجوسیانو او زانیانو سره کړی.

ستر مفسر مجاهد رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې وایي (الزناة یریدون أن یزني أهل الإسلام کما یزنون.)

ژباړه: زانیان دا غواړي چې مسلمانان هم زناوې شروع کړي لکه دوی یې چې کوي.

ځینې علماء فرمایي چې دا هو بهو داسې دی لکه دا قول دالله تعالی: وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاءً النساء:۸۹؛

ژباړه: هغوی (کفار) دزړه له کومې دا غواړي چې کاشکې تاسې کافران شئ لکه دوی چې کفر کړی نو دواړه سره برابر شئ په کفر کې.

هوکې! لکه څنګه چې د کفارو په مور ایمان نه لوریږي، توحید یې نه رابانديې لوریږي، دالله رضا او جنت یې نه رابانديې لوریږي بلکه غواړي چې مور هم ددوی په څیر دشرک په خباثت او د کفر په نجاست ککړ کړي او داسلام او ایمان له ستر نعمت څخه مو محروم کړي، هغوی شپه او ورځ دپته هم یوه کړي چې زمور تاسې حیاء ووژني او له مور تاسې څخه دعفت او پاک لمنې ستر ویاړ ولوټي.

لله الحمد زمور تولنه مسلمانه تولنه ده، پاکه او سپیڅلې تولنه ده، حیاناکه او له عفت څخه ډکه تولنه ده، زمور تولنه حجاب او پرده خپل اسلامي او افغاني هویت بولي او پرې ویاړي.

ددې کفارو او منافقانو په مور باندې دا سپیڅله او طاهره تولنه نه لوریږي، ځکه نو هڅه کوي ترڅو زمور تولنه دغرب دناولې او بې مهاره تولنې په څېر له فحشاء او منکراتو ډکه کړي، په بې حیایې او عریانیت مو آموخته او په زناګانو مو اخته کړي، او پدې توګه کرار کرار راڅخه داسلام روح سلب او له دین څخه مو مرتد کړي.

خو پام ای مسلمانې افغانې خورکی! پام چې دا شرمخان دې له دې ستر دولت څخه محرومه نکړي، دا ځناور په خپله حیاء نلري غواړي تا هم بې حیاء کړي، په خپله لخ لند غر ګرځي غواړي تا هم د عریانیت په دام کې راګیر کړي، دا بې شرفان عفت او پاک لمنې څه پیژني؟ دوی له اسلام او فطرت څه خبر دي؟

ددوی منظور نظر خو یوازې دخیټې ډکول او دنفس او هوا غوښتنې منل دي، پام که دې ددغو شیطانانو خبره ومنله نو دنیاوي ذلت او اخروي خسران به دې په برخه وي.

وما علینا الا البلاغ

دصلیبي جګړې لومړی متحد هم په ټېښته شو

(موسی مهاجر)

په ۲۰۰۱ م کال کي دامریکا له لوري دصلیبي جګړې دپیلولو په مهال بریتانیا په دغه جګړه کي دامریکا لومړنی متحد هیواد وو، بریتانیا دخپل تیر تاریخ په هېرولو له امریکا سره دافغانستان په اشغالولو کي دنورو متحدینو په نسبت پراخه ونډه واخیستله او دخپلو نیکونو له تاریخه بې پروا یې دهغوی په قتل ګاه کي پښه کېښوله

ددوی نیکونو چي له دغه میدان څخه ترخې خاطرې له ځانونو سره وړې وې، لمسیان یې دغه میدان ته دبخت دازمویلو له یوه خام فکر سره راښکته شول، خو دوی دلته

دخپلو نیکونو په پرتله له کوم ښه برخلیک سره مخ نه شول او دخپل شکست په اعتراف یې په څلورم ځل په افغانستان کي ماته وخوړه.

انګرېزانو په افغانستان کي درې ځله مخکي هم ماته خوړلې وه:

په لومړي ځل ماته: په کال ۱۸۴۲ م کي بریتانوي پوځیان دکابل - جلال اباد په منځ کي راګیر کړای شول، دافغان غازیانو له لوري تر تندریزو بریدونو لاندي ونیول شول او زرګونه پوځیان یې ووژل شول، یوازي یوه

ډاکټر براینډ په تپي حالت کي خپل زرګونه وژل شوي ملګري ترشا پرېښودل او ځان يې دجلال اباد له لاري هند ته ورساوو، دې ماتي انګرېزانو ته وښودله، چې دافغانستان اشغال اویاترخپل حاکمیت لاندې ساتل کومه اسانه خبره نه ده.

دوهم ځلي ماته: انګرېزانو په کال ۱۸۸۰ م کي په میوند کي سخته ماته وخوړه او زرګونه وژل شوي عسکر يې په میدان کي پاته شول

دریم ځلي ماته: دا ځل جګړه له خو جبهو پرې پیل شوه، چې په پایله کي يې انګرېزیانو په ۱۹۱۹م کال کي ماته وخوړه او دافغانستان استقلال يې ومانه، هغه مهال دافغانانو وسله والي مبارزې دنړۍ نورو ولسونو ته هم دمقابلې روحیه ورکړه او نورو ولسونو هم دافغانانو په پله قدم کېښود.

خو دوخت په تېرېدلو انګرېزانو تیر هیر کړل او دخپلو وسایلو په لیدلو سره يې یوځل بیاجرأت وکړ، چې دغه دغیرتونو خاوره اشغال کړي، یوازي توپیر يې داوو، چې هغه مهال جګړه متحدي بریتانیا په خپل سر په مخ بیوله او داځل يې له امریکا سره لاس په لاس کي ورکړ او دغه هیواد يې اشغال کړ.

په لومړیو کي دبریتانویانو او په ټوله کي ددوی دمتحدینو غرور اوج ته رسېدلی وو، دوی هیڅکله دداسي یوې ورځي تصور نه وو کړی، چې ټول عسکر به يې ماته خوړلي او په لوېدلي روحیه او دجګړې په میدان کي دخپلو زرګونو تپي شویو او وژل شویو عسکرو په شاته پرېښودلو خپل هیواد ته ستنیږي او دغه مغرور دښمن چې په لومړیو کي يې دبریا له ټکي پرته دماتي لفظ په غوږو نېنه لګیدو او نه يې ورسره خپله اشنایي ښودله، هیڅکله داسي فکر نه وو کړی، چې ددوی له مړو به یوځل بیا په یو وېشتمه پیړۍ کي دافغانستان او په ځانګړې توګه دهلمند دښتي ډګیرې.

بریتانوي پوځیان په ۲۰۰۲ کال کي هلمند ولایت ته ولاړل، دلته يې دېرشین ستره پوځي اډه جوړه او دمرکزي اډې په توګه يې کار ورڅخه اخیست، دوی هلمند ولایت ته له ورتګ سره سم دافغان مجاهد ولس له سختو بریدونو سره مخ شول، داسي بریدونه چې له بریتانویانو څخه يې لاره ورکه کړه او مرستي ته يې امریکایي پوځیانو ور ودانګل، خو امریکایانو نه یوازي چې دبریتانویانو دفاع ونه شوه کړای، بلکه دخپلې دفاع توان يې هم له لاسه ورکړ او دصلیبي جګړې دلومړۍ لیکي دواړه متحد پوځونه داشغالګرو لپاره په مرګ کنده (هلمند) کي راګیر شول، دوی نه په لاړو، نه په دښتو، نه په غرونو او نه هم په

خپلو اړو کې خوندي وو، بلکه هرځای دمجاهد ولس ترسختو بریدونو لاندې ول او دغه خاوره ددوی داتکلونو په خلاف یوځل بیاانګرېزانو ته سره تبې شوه.

په افغانستان کې دانګرېزانو تلفاتو او ماتې انګرېز مشران هم دخپلو غلطیو منلو ته اړ اوخپله ماته یې ومنله، دبریتانیاپخواني دفاع وزیر لیام فاکس وویل، ددوی پلان جوړنکې له تاریخ څخه ناخبره دي، ځکه که هغوی تاریخ لوستی وای، نوهیڅکله به یې په افغانستان یرغل نه وای کړی، نومورې دافغانستان په اړه دغرب پالوسي احمقانه بللې.

دبریتانیاددفاع اوسنۍ وزیر مایکل فالون په افغانستان کې دبریتانیادماتې په ترڅ کې وویل ، له افغانستان څخه دبریتانوي پوځیانو تر وتلو وروسته به بیا په هیڅ ډول شرائطو کې او هیڅکله افغانستان ته خپل پوځیان ونه لیږي.

په هلمند ولایت کې دبریتانوي پوځیانو قومندان ایډ بټلر دخپلې ماتې په مناسبت ویلي، ددوی پوځیان جګړې ته چمتو نه وو او نه یې روښانه تګلاره لرله، چې په مخ یې بیولي وای.

له ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې دبریتانوي پوځیانو مشر جنرال لارډ ډنټ خپله ماته په داسې ټکو کې منلې، ددوی پوځیان له ښې روحیې څخه برخمن نه وو او نه یې زړه ښه کاوو، چې دجګړې ډګر ته ورشي، نومورې خپل پرېمانه وسایل کم بللي او دخپلې ماتې یو لامل یې دوسایلو کمښت بللی دی.

له دغې جګړې څخه د انګرېز پوځي مشرانو پښېمانتیا په داسې مهال مخې ته راځي، چې دجګړې په ډګر کې انګرېز پوځیانو دروانې میاشتې په ۲۲ نېټه په افغانستان کې دخپلې وروستۍ اډې بېسشین واک پرېښود او یوه ورځ وروسته یې خپل هیواد ته له دغې خاورې او په ځانګړې توګه له دغې اډې څخه دبې شمېره ترخو خاطرو په وړلو سره دتیښتې لاره غوره کړه او له دې سره یې په دغه هیواد کې په ځلورم ځل داسې ماته وخوړه، چې دتل لپاره یې دانګرېزانو له ذهن څخه دافغانستان داشغال تصور ختم کړ او دصلیبي جګړې دنورو متحدینو په ډول ددغې جګړې لومړی متحد هم له افغانستا' خه په تېښته شو.

قیام امام حسین رضی برای تطبیق عدالت بود!

سعید بدخشانی

قابل یادآوریست که؛ پس از شهادت حضرت عثمان رضی الله عنه، حضرت علی رضی الله عنه توسط شورا برای خلافت برگزیده شد. پس از شهادت حضرت علی، حضرت امام حسین رضی الله عنه، به مدت شش ماه زمام خلافت را دردست داشته وایشان بعد ازشش ماه، به منظور جلوگیری ازخون ریزی بیشتربین مسلمانان، با حضرت معاویه رضی الله عنه مصالحه کرد وتمام امورمسلمین را به امیر معاویه واگذارنمود.

خلفای راشدین: حضرت ابوبکر صدیق، عمر فاروق وعثمان غنی (رضی الله عنهم) در طول خلافت خویش به خاندان واهل بیت پیامبر صلی الله علیه وسلم، احترام بسیاری قایل بودند وآنها را بر اقوام وخویشاوندان خویش ترجیح می دادند. درمقابل، حضرت علی وفرزندانش نیزدرراستای پیشبرد اهداف والای اسلامی با خلفاء همکاری کرده وبه آنهامشوره می دادند. لذا بین خلفاء واهل بیت هیچ نوع اختلاف یا انحرافی، که منجربه قیام آنها علیه خلفاء می شد، وجود نداشت. همینگونه پس ازمصالحه با امیر معاویه، علیه ایشان قیامی صورت نگرفته است.

البته انتخاب یزید به عنوان خلیفه، خطا ولغزش بزرگی بود، زیرا یزید شایستگی وصلاحیت کافی برای رهبری مسلمانان را نداشت. در زمان یزید، افرادی مانند حضرت حسین، حضرت عبدالله بن زبیروحضرت عبدالله بن عمروجود داشتند که اگرزمام امور مسلمانان به آنها واگذارمی شد، بدون شک هیچ اختلافی بین مسلمانان پیش نمی آمد. لذا بزرگان صحابه واهل بیت از عدم صلاحیت یزید به عنوان خلیفه، احساس خطر نموده وازبیعت با او خود داری کردند، حضرت عبدالله بن عمر، عبدالله بن زبیروامام حسین وهمچنین مردم مکه مکرمه ومدینه منوره بایزید بیعت نکردند تا اینکه اهل کوفه، که برشایستگی، حضرت امام حسین برای خلافت واقف بودند، طی نامه های از ایشان خواستند که به کوفه بیاید تا با وی بیعت کنند. حضرت حسین به دنبال این پسر کاکایش مسلم بن عقیل را به کوفه فرستاد تا مردم کوفه را برای قیام علیه یزید آماده

کند ،اما حضرت حسین در بین راه ودر حالی که باقافله ای هفتاد نفری عازم کوفه بود .ازپیمان شکنی اهل کوفه اطلاع یافت که آنها به وعده خویش وفانکردند.

پس ازخیانت وعهدشکنی اهل کوفه ،قافله حضرت حسین در محاصره لشکریزید قرار گرفت. این لشکر ظالم ،به حضرت حسین ،دو پیشنهاد را طرح کرد "جنگ ومبارزه "یا "اسارت .چونکه امام حسین شخصیت شجاع ودلیربود ازپذیرفتن ذلت اسارت ابا ورزید وبا کمال شهامت ومردانگی ،نبرد وشهادت را درراه خدا پذیرفت .وبه این ترتیب واقعه دلخراش کربلا پیش آمد.

برادران مسلمان !حادثه کربلا ،حادثه است که عالم اسلام هرگزآن را ازیاد نخواهد برد.این حادثه وهچنین حادثه "حرّه" که درسال ۶۳هجری رخ داد ودرآن یزید به مدت سه روزجان ومال مردم مدینه را مباح اعلام کرد ،ازواقعات تلخ وناگوار تاریخ اسلام ونقطه سیاهی در کارنامه یزید به شمار می رود که ثابت می کند یزید فردی مستبد ،دیکتاتوروظالم بوده است که حاضربه شنیدن نصیحت وسخن حق نبود ،بلکه با کمال بی رحمی ،نزدیک ترین اشخاص به پیامبراسلام را به شهادت رسانید .اما تمام کسانی که دستشان به خون حضرت حسین آغشته شده بود درهمین دنیا به عذاب الهی گرفتارشدند .یزیدهم مدت کمی حکومت کرد وازبین رفت.

قیام امام حسین برای درهم شکستن استبداد واجرای عدالت ودرجهت امربه معروف ونهی ازمنکربود.امام حسین برای اینکه مردم شرافتمندانه درسایه حق وعدالت زندگی کنند به پا خواست وتاآخرین لحظه تسلیم نشد.امام حسین جام شهادت را نوشید تا به بشریت این درس را بدهد که هرگاه عدالت زیرپا شد ،ساکت ننشینند وعلیه ظلم واستبداد قیام کنند ،اگرچه دراین راه دچار مشکل وحتی شهادت هم شوند .اما یادشان تا قیام قیامت دراذهان باقی خواهد ماند.

اهل بیت پیامبر بزرگ اسلام ،خصوصاً حضرت بی بی فاطمه ،حضرت علی وفرزندانشان نزد همه مسلمانان جهان ازجایگاه ومنزلت ویژه ای برخوردارند .اما اظهار محبت با این بزرگواران نباید فقط زبانی باشد ،بلکه باید روش وسیرت ایشان را در زندگی الگوی خویش قرارداد.در روایات آمده که حضرت حسین وفرزندانشان زین العابدین اشخاصی عابد ،متواضع وفروتن وبی رغبت به دنیا ومتاع آن بودند .آنها انسانهایی پرهیزگاروخداترس بودند که می توانند بهترین الگو برای مسلمانان باشند .پس با پیروی ازسیرت ایشان می توان نسبت به اهل بیت پیامبراظهار محبت کرد.

پس حادثه امام حسین رضی الله عنه درس عبرتناکی است برای بشریت به ویژه برای مسلمانان وپیروان راستین پیامبراسلام ،که انسان مؤمن ومتدین هیچ گاه دربرابرظلم ووحشت کفارویزید ویزیدیان عصرسکوت را اختیارنکنند بلکه مردانه وارازخودشهامت نشان داده ازدین ونوامیس اسلامی وسرزمین اسلامی دفاع کنند اگرچه به دادن سر وجان هم بوده باشد.



مونږ افغانستان ته یوازې دوژلو لپاره تللي وو

لیکوال: سیرګي بویارکین - کابل

(د پخواني شوروي اتحاد دیو پوځي له یادښتونو ځینې)

زباړه: حکمت الله طاره حریر

زما د دندې په ټوله موده کې چې تقریباً یو نیم کال وه، ما داسې ډېر داستانونه اوریدلي دي، چې زمونږ عسکرو او پوځیانو به له ملکي افغانانو سره ډېر بد چلند کاوه او څورول به یې، دهغوی مالونه به یې لوټل او آن دوی به یې وژل او... چې په پوځي ډګر کې د دوی دا کړنې یو جرم او سرغړونه بلل کیدای شي.

تر دې چې ۱۹۷۹ کال د دیسمبر په میاست کې د کودتا پر شپه د شپې په اوږدو کې ځینو روسي پوځیانو په غیر مسلح او ملکي وګړو ډزې وکړې او دوی یې په نښه کړل او بیا به یې دا پیښه د یوې خندونکې کیسې په توګه یادوله.

د ۱۹۸۰ زېږدیز کال د فبروري د میاشتې له بریده دوې میاشتې وروسته د کنړ په ولایت کې د لومړنیو پوځي عملیاتو پر مهال چې د ۳۰۰ پوځیانو په ګډون چې د چورلکو په مرسته د غرو په لمنو کې پیاده شوي وو، زمونږ د پوځ تر ټولو لویه برخه د هوایي ځواک څخه وه. ما ټولو پوځیانو ته د عملیاتو اصول ور په ګوته کړل او دوی ته مې لازمې لارښوونې وکړې، د خوراکي توکو له منځه وړل، د انسانانو او حیواناتو وژل او هر کور ته له ننوتو وړاندې هغه کور ته ګیرنډ (نارنجک) بم غورځول او بیا ور باندې ډزې کول... او بیا ټول انسانان تر دې چې سپین ږیري او حتی نوي ځوانان په مرمیو ویشتل!!!... دا ټول په هر اړخیزه توګه ممنوع دي... خو کله چې له دوو اونیو وروسته پوځي عملیات پای ته ورسېدل، بې شمېره ملکي وګړي وژل شوي او ډېر کورونه، څاروي او خوراکي توکي له منځه تللي وو، چې هېڅ باور مې نه کېده.

زمونږ پوځیانو په لومړیو دوو کلونو کې د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې په پوره وحشت سره عمل کاوه، د مثال په ډول د ۱۹۸۰ کال د مني په موسم کې د کندهار د ولایت مربوط روسي پوځیان د ګزمې لپاره ووتل، دوی په پوره زور او وحشت هر په مخه ور تلونکی انسان او حیوان واژه، د دوی له وېرې هېڅ څوک هم په سر کونو نشو ګرځیدلای او ټول به

په کورونو کې پټ وو. که چیرې به څوک په مخه ورغی نو هغه به یې واژه او ډزې به یې پرې کولې...

دلته یوه له هغو درډونکو او مهمو کیسو څخه در ته

نکلوم: په کال ۱۹۸۱ زېږدیز کې یو افغان بزګر په کندهار کې پر لاره په خره سپور روان ؤ او هغه سره یوازې یو لرګی ؤ چې خر به یې وربانده اداره کاوه. په همدې حالت کې زمونږ د پوځیانو کاروان په همدې لاره راځي او په بزګر ډزې کوي بې له دې چې وګوري څوک دی او څه رنګ وسله ورسره ده!!!.

د یو کاروان د وژل شویو کسانو دیوه له جیب څخه راویستل شوی عکس

کاروان ودریدا او یو پوځي بزګر ته ورواندې شو. تر څو وګوري چې څه شوي دي. هغه لا نیم ژوانده په وینو کې لت پت پروت ؤ. څه باید وکړو، مرسته. نه. ځکه چې هغه افغان مسلمان دی!!! نو بیا امر وشو تر څو دهغه د بدن لاندې بم ځای پر ځای شي. د بم له ځای پر ځای کېدو وروسته زمونږ کاروان حرکت وکړ. کله چې کاروان روان شو نو په بم مو ډزې وکړې چې دهغه له چاودیدو سره د بزګر نیم ژوانده بدن هم توته توته شو!!!

کله به چې د ملکي وګړو د موټرو یا اوښانو کوم کاروان زمونږ له تلاشۍ سره مخ شو، نو هر هغه چا سره به چې هر رنګه وسله ګیر شوه نو لومړی به هغه ووژل شو او بیا به د نورو کاروان ټوله سورلي ووژل شوه او تر دې چې ماشومان او ځاروي به وژل کیدل. کله ناکله زمونږ پوځیانو د تلاشۍ پر مهال د خینو کسانو په جیبونو کې به یوه څه واچول او بیا به یې، نو ورته پلمه جوړه شوه، نو وروسته به یې په راز راز څورونو او وحشت هغه دې ته اړ کړ چې هغه څه پر خان ومني چې دوی ورته لاړښوونه کوي. پیسې به یې ترینه ولوټلې او دی به یې هملته وواژه...

له دې وروسته به چې څوک ونیول شو نو زمونږ لپاره به د ساتیرۍ وخت راغی چې د هغه د چغو او کوکارو په اوریدو سات تېر کړو او پر هغه ملنډې ووهو. بیا به مو دهغه په وهلو شروع وکړه او هغه به د مرستې غوښتنه کوله. په داسې حال کې چې د کاروان نور ملګري به یې وژل کیدل...

پر ګزمو بر سیره بحري ځواکونه به په عمومي سر کونو کې کمین نیولو او دوی (چې د کاروانیانو پر ښکاریانو مشهور وو) کله هم په دې نه پوهیدل چې چا سره وسلې شته او که نه شته. چې پر هر چا به یې شک راغی او یا به په مشکو کو سیمو کې را ښکاره شو. نو ډزې به یې پرې پیل کړې، که به هغه ښځې او ماشومان هم وو!

زما ښه په یاد دي یوه سمندري روسي عسکر چې د همدې جنګونو ګډون کونکی ؤ له خپلو کړنو او جګړې ډېر خوښ ؤ او پر خپلو وژنو به یې ویاړ کولو... ما هېڅکله هم دا فکر نه ؤ کړی چې ټول وژنه به هم دویاړ نې او تحسین سبب وګرځي! خو دلته به په عام وژنو مډالونه ورکول کیدل او خپله افغاني حکومتي چارواکو به مونږ ته لاسونه پر کول چې ددوی هېوادوال مو وژلي دي!!! خو ما هېڅکله هم د مډال یا ډالۍ، او ویاړ لپاره جګړه نه غوښتله...

په تیر پسې

د شهادت غوښتنې

لیکوال: علي بن نايف الشحود الاسدي

ژباړه: شیخ ابومحمدعبدالله مخلص

١٨ - وعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُنَيْسٍ: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - بَعَثَهُ سَرِيَّةً وَحْدَهُ» المعجم الكبير للطبراني (١٣/ ١٤٢) (٣٥١) صحيح.

قال الشّافعيُّ، أنّ رَجُلًا مِنَ الأنْصَارِ تَخَلَّفَ عَنْ أَصْحَابِ بِئْرِ مَعُونَةَ، فَرَأَى الطَّيْرَ عُكُوفًا عَلَى مَقْتَلَةِ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ لِعَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ: سَأَتَقَدَّمُ عَلَى هَؤُلَاءِ العَدُوِّ فَيَقْتُلُونَنِي وَلَا أَتَخَلَّفُ عَنْ مَشْهَدٍ قُتِلَ فِيهِ أَصْحَابُنَا، فَفَعَلَ فَقُتِلَ، فَرَجَعَ عَمْرُو بْنُ أُمَيَّةَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ فِيهِ قَوْلًا حَسَنًا، وَيُقَالُ قَالَ لِعَمْرٍو: "فَهَلَّا تَقَدَّمْتَ فَقُتِلْتَ حَتَّى تُقْتَلَ" قَالَ الشَّافِعِيُّ رَحِمَهُ اللهُ وَبَعَثَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - عَمْرَو بْنَ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيَّ وَرَجُلًا مِنَ الأنْصَارِ سَرِيَّةً وَحْدَهُمَا، وَبَعَثَ عَبْدَ اللهِ بْنَ أُنَيْسٍ سَرِيَّةً وَحْدَهُ «السنن الكبرى للبيهقي (٩/ ١٧٠) (١٨٢٠٠) بلا سند.

ژباړه: له عبد الله بن اُنَيْس رضي الله عنه نه روایت دی نومورې وایي: زه رسول الله صلى الله عليه سلم تنها او په یوازې سر غزا ته د سریې په ډول ولېږلم، امام شافعي رحمه الله ویلي: د بیر معونة له ملګرو نه یو کس وروسته پاتې شو، د خپلو ملګرو د شهادت په ځای یې د مارغانو یوه ډله ولیده، عمرو بن امیة رضي الله عنه ته یې وویل: زه په دغو دښمنانو یرغل کوم چې ما ووژني او له خپلو ملګرو نه ځان وروسته نه پرېږدم، داکار یې وکړ او ووژل شولو، کله چې عمرو بن امیة رضي الله عنه رسول الله صلى الله ته راغی، دغه کیسه یې ورته ذکر کړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم یې ستاینه وکړه، او داسې هم ویل شوي چې

عمر ته يې وويل: ولې دې وايه او جګړه ونه کړه ترڅو ته هم شهيد شوی وای؟ امام شافعي رحمه الله ويلي: رسول الله صلى الله عليه وسلم عمرو بن امية الضمري، او له انصارو نه يو بل کس د سريې په توګه سره لېږلي وو، او عبد الله بن انيس يې تنها سريه لېږلې ؤ.

د دليل څرګندتاوی:

حديث پدې دلالت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د بريد کونکي بريد سره له دې چې پدې پوهېدلو چې وژل کېږي حرام ندی بللی بلکې چا چې بريد او حمله نده کړې هغه يې په يوازې توګه حملې ته هڅولی چې د نورو ملګرو په شان شهيد شوی وای.

ژباړه: له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی، نومورې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم لس کسان د ځارنې او جاسوسۍ لپاره د سريې په ډول سره ولېږل، د هغوي مشر يې عاصم بن ثابت انصاري رض و ټاکه، چې نومورې د عمر بن الخطاب دزوی عاصم نيکه ؤ، هغوئ تر هغو مزل وکړ، چې هداة نومي ځای ته چې د مکې او عسفان ترمنځ يو ځای دی، ورسېدل، په هغوي د هذيل د کلي بنو لحيان قبيلې خلک خبر شول، په هغوي پسې نږدې دوه سوه کسان په آسونو سپاره چې ټول يې غشي ويشتونکي وو راووتل، او د هغوئ په قدمونو پسې روان شول، کله چې هغوئ عاصم رض او د هغه ملګرو ولېدل هغوئ يوه او چت ځای ته وختل او دغه دوه سوه کسان له هغوئ نه را تاو شول او هغوئ يې محاصره کړل، صحابه کرامو رضي الله عنهم ته يې وويل: رابښته شئ، ځانونه زمونږ په واک کې راکړئ، زمونږ له لورې له تاسو سره وعده ده، چې له تاسو نه به يو کس هم نه وژنو، د ثابت زوی عاصم رض چې د سريې مشر هم ؤ، داسې وويل: زما دې په الله جل جلاله قسم وي ،زه د کافر په وعده باور نه کوم، له دې ځايه نه ښکته کېږم، او د هغوئ په ذمه کې ځان نه داخلوم، ای الله ج زمونږ له لورې دې خپل استازي ته خبر ورکړه، کافرانو هغوئ په غشو وويشتل ،عاصم رض يې له اووه کسانو سره شهيد کړ، هغوئ ته درې کسان په وعده سره رابښته شول، چې په هغو کې خُبَيْب انصاري رض، ابن دثنة رض، او يو بل سړی و، کله يې چې هغوئ ګير کړل، د هغوئ د لينديو مرۍ يې پرانستل، او هغوئ يې ورباندې وترل، هغه دريم سړي ووېل: دا لومړی غدر او خيانت شو، قسم په الله ج زه له تاسو سره نه ځم، زه په دغو شهيدانو پسې اقتدا کوم، هغوئ دغه سړی له ځان سره کش کړ او کوښښ يې وکړ، چې له ځان سره يې بوځي، خو هغه له تللو نه انکار وکړ، په پای کې يې شهيد کړ، خبيب رض او ابن دثنة رض يې له ځان سره بوتلل، ان تردې چې هغوئ يې په مکه مکرمه کې د بدر له غزا

نه وروسته وپلورل، خبيب رض د بنو الحارث بن عامر قبيلې واخيست، خبيب رض د بدر په ورځ حارث بن عامر وژلی و، خبيب رض له هغوئ سره بندي شو، عبيد الله بن عياض ويلي: د حارث لور ماته خبر راکړ، هغه وايي: مونږ يوه ورځ سره يو ځای وو، چې خبيب رض له ماځخه د ځان د صفا کولو لپاره چاړه وغوښته، ترڅولې نامه نه لاندې وښتان وربانديې وخريي، ما چاړه ورته ورکړه، هغه زما په نا خبرۍ کې زما يو وړوکی زوی هم واخيست، کله چې زه هغه ته ورغلم، زما زوی يې په خپل پتون کښولی او چاړه يې په لاس کې وه، زه داسې ووبرېدم، چې خبيب رض زما وبرېدل زما له مخ او څيرې نه ويپژندل، ماته خبيب رض وويل: آيا له دې نه وبرېږې چې زه به ستا زوی ووژنم؟ نه زه داسې کار نه کوم، د حارث لور وايي: قسم په الله ج ما له خبيب رض نه ښه بندي ندی ليدلی، يوه ورځ مې وليد، چې د انګورو وړی يې په لاس کې و، او انګور يې په داسې حال کې خوړل، چې په زولنو تړلی و، په مکه کې پدې مهال تازه مېوې نه وې، د حارث لور به ويل: دغه روزي وه، چې الله جل جلاله خبيب رضي الله عنه ته ورکوله، کله چې هغوئ له حرم نه خبيب رضي الله عنه د حل ځمکې ته ووښت، چې ويې وژني، خبيب رضي الله عنه هغوئ ته وويل: ما پرېږدئ چې دوه رکعته لمونځ وکړم، هغوئ دوه رکعته لمانځه ته پرېښود، خبيب رضي الله عنه وويل: که چېرې تاسو په ما ګمان نه کولی، چې له مرګ نه وېرېږي، ما به اوږد لمونځ ادا کړی وای،

او دا شعرونه يې وويل: چې مسلمان ووژل شم، د دې پروانه کوم، چې په هر لوري وغورځېږم، او داځکه چې د الله جل جلاله د ذات لپاره زما وژل دي، که د الله جل جلاله خوښه شي، زما د توتې توتې بدن په بندونو به برکت کېږدي.

د حارث زوی هغه شهيد کړ، خبيب رضي الله عنه د هر مسلمان لپاره چې په بند کې وژل شي، د دوه رکعته لمونځ کولو سنت پرېښود ل، الله جل جلاله د عاصم بن ثابت رضي الله عنه د شهادت په ورځ د هغه دعاء قبوله کړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د هغوئ د شهادت او د شهادت د څرنګوالی خبر ورکړ، د قريشو کافران چې کله د عاصم رض له شهادت نه خبر شول، څه کسان يې په هغه پسې ولېږل، چې د هغه د بدن څه برخه له دې امله چې د قريشو يو مشر يې د بدر په ورځ وژلی و، راوړي، د عاصم رض په بدن الله يوه ډله مچۍ و ګمارلې، چې د هغه بدن يې د کافرانو له استازيو نه وساته، هغوئ پدې و نه توانېدل، چې د هغه له بدن نه څه غوښه او يا هم

کومه برخه را پرې کړي (صحيح البخاري (٤/ ٦٧) (٣٠٤٥).

د دليل څرګندونه:

له تېرشوي حديث نه معلومېږي صحابه کرامو سره له دې چې پدې يې يقين وو چې وژل کېږي بيايې هم کافرانو ته تسليم نه شول او په لږشمېرکې يې د هغوي له ډېر شمېر سره مقابله وکړه او ځانونه يې شهيدان کړل، رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوي د شهادت او د شهادت د څرنګوالي خبر صحابه کرامو ته ورکړ او د هغوئ کړنه يې د شريعت خلاف و نه بلله د اپدې دلالت کوي چې شهادت په اسلام کې يوه لوړه موخه ده.

٢٠ - عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - أَفْرَدَ يَوْمَ أُحُدٍ فِي سَبْعَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَرَجُلَيْنِ مِنْ قُرَيْشٍ، فَلَمَّا رَهِقُوهُ، قَالَ: «مَنْ يَرُدُّهُمْ عَنَّا وَلَهُ الْجَنَّةُ؟» - أَوْ: «هُوَ رَفِيقِي فِي الْجَنَّةِ» -، فَتَقَدَّمَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ، ثُمَّ رَهِقُوهُ أَيْضًا، فَقَالَ: «مَنْ يَرُدُّهُمْ عَنَّا وَلَهُ الْجَنَّةُ؟» - أَوْ: «هُوَ رَفِيقِي فِي الْجَنَّةِ» -، فَتَقَدَّمَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ، فَلَمْ يَزَلْ كَذَلِكَ حَتَّى قُتِلَ السَّبْعَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - لِصَاحِبَيْهِ: «مَا أَنْصَفْنَا أَصْحَابَنَا» (صحيح مسلم (٣/ ١٤١٥) ١٠٠ - (١٧٨٩)).

ژباړه: انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دی، نومورې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د احد په ورځ د انصارو له اووه او د قريشو له دوه کسانو سره تنها او يوازې پاتې شو، کله چې کافرانو رسول الله صلى الله عليه وسلم په غشو وويشت، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: څوک به يې له مونږ نه منع کړي او دهغه لپاره جنت دی؟ او يا يې هم داسې وويل: هغه به په جنت کې زما ملګری وي، له انصارو نه يو سړی د کافرانو مقابلې ته ورو راوندې شو، ترهغو و جنګېد ترڅو شهيد شو، بيا هغوئ رسول الله صلى الله عليه وسلم په غشو وويشت، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم مخکښې خبره تکرار کړه، چې څوک به هغوئ له مونږ نه منع کړي، چې الله جل جلاله جنت ورکړي، او يا به هغه په جنت کې زما ملګری وي، له انصارو نه يو بل سړی وروراندې شو، ترهغو يې له هغوئ سره جګړه وکړه ترڅو شهيد شو، آن تر دې چې په همدې توګه سره اووه واړه انصاريان صحابه کرام رضي الله عنهم شهيدان شول، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: مونږ له خپلو ملګرو سره انصاف او عدل ونه کړ.

تشريح: جمهور عالمان وايي: انْصَفْنَا د فا په سکون سره دی، او اصحَابَنَا منصوب دی او د انصفنا لپاره مفعول دی، معنی يې داسې ده مونږ قريشيانو له انصارو سره انصاف ونه

کړ، ځکه انصارو یو په بل پسې جګړې ته و دانګل، او قریشیان جګړې ته وراندې نه شول. ځینې عالمان وایي: انْصَفَنَا د فا په فتحې او زور سره دی، او اصحابنا په پښې سره دی چې فاعل دی، معنی یې داسې ده چې له جګړې نه تښتېدلو کسانو له مونږ سره انصاف ونه کړ ځه وتښتېدل.

د اسلام او عیسویت (چې اوسمهال د اسلام سره د مقابلې لپاره تر ټولو دینونو عیسوي مبلغین ډېر کوښښ کوي) په اړه باید خپل اولادونه پوه کړی شي او لږ تر لږه باید هغه عامې او مشهورې نیوکې چې عیسویان یې په اسلام کوي باید ورزده کړل شي. باید هغوی وپوهول شي. چې د اسلام د دین د پیروی په وخت کې له کومو ګوابنونو سره مخ کېږي او دوی باید ورته څه ځواب ولري. هغوی ته باید وویل شي. چې عیسویت ولې باطل شوی دین او د بطلان اساس یې څه دی. ولې مونږ د اسلام پیروي کوو او د نورو دینونو د پیروی څخه ځان ساتو؟

دا او دا ډول نورې ډېرې هغه پوښتنې دي. چې باید ځوانونه یې خپلو اولادونو ته ورزده کړو. که مونږ ورسره دا پوښتنې او د هغوی ځواب په خپله مطرح نه کړل نو سبا به یې ورسره نور مطرح کړي چې بیا به یې د ځوانولو پر مهال په دوه لارې کې پاتې وي. چې خپل دین راټینګ کړي. د بل باطل او د هر ډول بې بنډوبار یو پرمخ خلاص دین خپل کړي او که سیګولر او بې دینه شي چې هیڅ ډول دین منلو ته چمتو نه وي.

د دلیل څرګندونه

له دلیل نه دا څرګنده ډېره چې د ژوند تر پایه پورې له ځان نه د دفاع او د کافرانو مقابله کول اګر چې د شهادت او د سر د قربانۍ په بدلې سره هم تر لاسه شي روا بلکې افضل کار دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم پاتې ملګرو ته وویل له شهیدانو سره مو انصاف ونه کړ.

۳۱ - روی ابن کثیر في البدایة والنهایة قال: قالَ ابْنُ إسْحَاقَ: وَتَرَسَ أَبُو دُجَانَةَ دُونَ رَسُولِ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - بِنَفْسِهِ، يَقَعُ النَّبْلُ فِي ظَهْرِهِ، وَهُوَ مُنْحَنٍ عَلَيْهِ، حَتَّى كَثُرَ فِيهِ النَّبْلُ

ژباړه: ابن کثیر په خپل کتاب البدایة والنهایة کې ویلي: ابن اسحاق ویلي: ابو دجانة رضي الله عنه خپل ځان د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره سپر ګرځولی و، نومورې په رسول الله صلی الله علیه وسلم ځان ورکوونې کړی و، چې له همدې امله یې ډېر غشي په شا ولګېدل.

ذبیح الله مجاهد

څو شپې له خپل ولس سره

السلام علیک ورحمت الله وبرکاته! برادر محترم ذبیح الله مجاهد سوال من این است که این جنگ افغانستان بزرگترین کشور های دنیا از نگاه اقتصادی را تقریبا به زادنو در آورده طالبان چگونه بدون داشتن کدام عاید مستقیم توانستند که تقریبا در این جنگ برنده شوند و بودیجه را که مصرف میکند از کدام منبع و مرجع بدست می آورند؟

والسلام برادر شما از ولایت سرپل

پاسخ - وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! جنگ طالبان ومجاهدین جهاد است، همه ملتهای مظلوم جهان وملت افغانستان اعم از تاجران کشور، زمین داران وسائر سرمایه داران کشور با امارت اسلامی افغانستان از لحاظ پولی همکاری می نمایند، ودر بعضی از نقاط کشور منابع عایداتی کشور هم تحت تصرف مجاهدین است که این همه جمع میشوند و منبع مالی وحمایوی امارت اسلامی را تشکیل میدهد، دیگر اینکه مجاهدین مصارف گزاف هم نه دارند، در صفوف مجاهدین ضرورت به لوژیستیک نیست زیرا همه مردم مجاهد کشور ما هر غذای که برای خوردن خود دارند همان را به مجاهدین هم در مناطق خود میدهند، همچنان مجاهدین امارت اسلامی ضرورت به البسه ندارند، زیرا هر مجاهد لباس شخصی خود را به تن دارد، از آن استفاده میکنند وهمان در جهاد کفایت میکند، مجاهدین امارت اسلامی در اجرای عملیات های نظامی هم مصارز زیاد ندارند، زیرا اسلحه زمان جهاد روسها هنوز هم در هر نقطه کشور وجود دارد، که قبلا مجاهدین آنرا بخاطر همین جهاد در آغا تجاوز امریکا ذخیره نموده بودند که فعلا از همان استفاده صورت میگرد، واکثر ماین های زمینی وواسکتهای فدای یا موتر های حملات استشهادی را مجاهدین در خانه های خود دست ساز می سازند

ومواد ی هم که در آن استفاده میشود به قیمت ارزان به دست مجاهدین می رسد . پس مصارف مجاهدین به مصابه دشمن ۰.۰۱ فیصد هم نیست . واین که امارت اسلامی کفار دنیا را با همه اسلحه واقتصاد آنها به زانو در آورده است ،من گفته میتوانم که (هذامن فضل ربي) این مرحمت ونصرت خداوند متعال است که بامجاهدین همراه است وهمه مسلمانان به نصرت خداوندمتعال عقیده وباور دارند. تشکر

جناب مجاهد صاحب احترامات تقدیم است

محترما سوال من این است که ایا امارت اسلامی افغانستان دربرابر کارمندان ملکی نظام کنونی در کشور موضع مشخص دارند وياخير ؟ به این مفهوم که اگر شخصی به عنوان کارمند دربک اداره افغانستان کار میکندوبعداً به دست نیروهای امارت اسلامی دستیگر میشود درمقابل وی چه کاری صورت خواهد گرفت

باعرض حرمت ـ ازادزوی

پاسخ ـ برادر محترم ما دراین مورد قبلا هم موقف خویش را ابراز داشته ایم . اینکه اداره کابل توسط بیگانه ها به زور بمبارد مان برملت ما تحمیل گردیده و همه کارکردگی های این اداره به نفع اشغال کشور وضد مجاهدین ومبارزین راه آزادی صورت میگیرد پس کار کردن درچنین نظام روی ملحوظات اسلامی جایز نیست . البته بازهم اگر کدام کارمند دولتی به امارت مجاهدین درآمد طبعا که روی فیصله محکمه اسلامی نسبت به ثقل وخفت جرم ، کار وفعالیت آنها در اداره کابل با وی معامله صورت خواهد گرفت .ما دراین راستا از تأمین عدالت شرعی مطمئن هستیم . تشکر

السلام علیکم! گرانه وروره مجاهد صاحب! دافغانستان دملی تلویزیون.هره ورځ اعلان کوي چې په لو ګرلغمان....پکتیا زابل. نیمروز. کې په سلګونې طالبان دولت ته تسلیم شوی.

ځواب ـ وروره ددښمن بس دغه یوه تبلیغاتي لاره پاتې ده نور خوپې په ټولو برخو کې ماتې په برخه ده ، دوی په ځینو ولایاتو کې کله جعلي پروسې جوړې کړې اوبیا یې میډیاته وښیي چې داده دومره مجاهدین راته تسلیم شول ، داسې کارونه به پخوانیو کمونستانو هم کول مګر ګټه یې نه وه ورته کړې .نو دوي ته یې هم ګټه نشته ټول ملت ددوي په دروغو اوغلطو معلوماتو پوهیږي ددوي تبلیغاتي چینلونه ملت ډیر ښه پیژني اوهیڅ اعتبار نه ور کوي مورږ تاسو اوټول ملت ته ډاډ ور کوو چې زمورږ جهاد یو شعوري او عقیدوي جهاد ده هر فرد مجاهد دالله تعالی درضا لپاره جهاد کوي نو کله هم ددنیا په متاع نه غولیږي او نه هم خپله عقیده او اسلامي باور پریږدي نو هیله ده چې تاسو په دې اړه هیڅ تشویش ونه لرئ.

السلام علیکم! په افغانستان اوسنی حالت کې یو څه اندزه افغانان عیسویت دین ته اوښتی. هغه غیر دولتي موسسات یا این جي او په دې برنامو کې زیاد تره دخیل او شامل دي او دکابل اداري تر اوسه پورې کوم اقدام نه دی کړی. ستاسو نظر څه دی؟

ځواب- بلې زما دردلې او ځوریدلې وروره !

زموږ دالس کلنه مبارزه او جهاد هم دهمدې هدف لپاره ده چې اسلام او عقیده مو وژغورل شي ، موږ پوهیږو چې کفری هیوادونو چې چیر ته هم دآبادي په نامه مداخله کړی او دخلکو پاکې او سپیڅلی ارادې یې سلب کړي دي ، هلته له ټولو ړومبی اسلامی معتقدات له سخت زیان سره مخ شوي ، خلک بې لارې شوي ، دخپل دین اسلام نه منسخو دینونو ته دعوت ،هڅول اوحتی مجبور کړل شوي دي ، په اسلامي شعائرو باندې ملنډې وهل شوي ، یو شمیر تش په نامه مسلمان خلک هم په داسې پرور ګرامونو کې استخدام شوي او دمال او متاع په عوض کې داسلام په ضد دریدلي ، دخپلو معتقداتو په خلاف له کفارو سره ملګري شوي ، په خپلو دیني روایاتو او لارښونو باندې یې مسخرې پیل کړي ، داسلام روښانه لارښونې او احکام یې دټولنې دشاته پاتې کیدو او ارتجاع په نامه نومولي او په خلکو باندې یې کفري غربي کلچرپه ټولو ممکنه وسیلو تپلي دی ، خو باید کلک په دې باورووسو چې داسلام لپاره هم داسې سرښندونکي شته چې دکفارو دغه ټولې دسسې او ګمراه کونکي اقدامات په نطفه کې خنثی کړي ،حق تل بري مند او باطل محوه کیدونکی دی ، له ټولونه ړومبی باید دهغو مجاهدینو وروڼو سره هر راز مرسته او همکارۍ وشي چې دهمدې اسلام او عقیدې دساتنې په لاره کې خپل هر څه پریږدي ، خپل مور پلار ، اولادونه ، کور خپل خپلوان ،مال اومتاع ،خوږ ژوند ،هیلې او آرمانو ټول په هغه لاره کې قربانوي چې هغه لار زموږ او تاسو ټولو مسلمانو سره شریکه ده نو زما په باور دخپګان او تشویش پرځای باید زموږ ټول ملت دمسئولیت داحساس ترڅنګ په لوي الله توکل وکړو او په ټولو ممکنه وسیلو دخپلو مجاهدینو وروڼو لاس نیوی وکړو ، ترڅو مو راتلونکی نسلونه له دغو شومو کفري دسیسو نه په امن کې پاتې شي او هغه بدمرغه او ګمراه څیرې چې ددغو بدولارو دمدافعینو په بڼه په بیلا بیلو طریقو استخدام شوي لومړی باید له هغو مسلمان نما مفسیدینو نه دانتقام اخیستلو په فکر کې شو او هغه کسان چې خپل ریښتونی او حق دین یې پریښی اوعیسویت یابل کفریي دځان لپاره غوره کړي وي ، دوي باید پوه شي چې دوی به یا بیر ته کلکه توبه باسي اویا به افغانستان نور ددوی لپاره داوسیدوځای نه وي او هغه ګوډاګی او غلامه اداره چې ددغو ټولو بدمرغویو په لاره کې له کفاروسره مرستندویه ده نور باید ښه وپیژندل شي ، نور وخت ورنکړل شي چې زموږ په سرنویشت اوعقیده لاهم لوبې وکړې ، خلک په تدریج سره په بیلابیلو نومونو له خپل دین او اسلام څخه لري کړي او دکفر خوریدو ته لاره هواره کړي .

جنګي جنايتونه (اکتوبر)

سيد سعيد

دروان (۲۰۱۴ز) کال داکتوبر دمياشتي په ۵مه نيټه دهلمند ولايت دسنګين ولسوالي دځاروان کلا په کوټې سيمه کي دداخلي عسکرودهاوان په ډزو کي چې يوه مرمۍ يې دحاجي محمد اکا پر کور لګيدلې يوولس تنه ملکي وګړي زيانمن شوي دي ،په دغه توغنديزبريد کي پنځه ښځې او يوماشوم شهيدان شوي اوپنځه تنه نارينه اوښځينه ژوبل شوي دي .

داکتوبر په ۷ مه ديرغلګروالوتکو دپکتيکا ولايت دخير کوټ ولسوالي دبکخېلوسيمه کي يوملکي وګړي او يوه ښځه چې پر موټر سايکل سپاره وو ، شهيدان کړي دي .

داکتوبر په ۹ مه دغزني ولايت دشلګر ولسوالي په غلي جان کلي کي اربکيانودوه نفره ولسي وګړي شهيدان کړي دي .

داکتوبرپه ۹ مه دهلمندولايت دسنګين ولسوالي د پانکيلي په سيمه کي کورنيو عسکرودرې تنه ملکي وګړي بنديان کړي دي .

داکتوبر په ۱۱ مه دپکتيکاولايت دبرمل ولسوالي په مرغه سيمه کي داشغالګرو په بمبار کي چې دسپرلي موټريې په نښه کړيوملکي وګړي شهيد شوي اويو بل تن ټپي شوي دي .

داکتوبرپه ۱۱ مه دکندز ولايت دامام صاحب ولسوالي په ګمبزو سيمه کي دداخلي عسکروپه ډزو کي يوه ښځه شهيده شوې ده ،همدا راز ځايې خلګووېلي چې ددې ولسوالي په جوی بيګم سيمه کي دقوماندانۍ دپوليسو څخه ډير په عذاب شوي دي . دوی ويل چې : پوليس يې په يواوبل نوم وهي دېوي اومالي زيانونه ورته رسوي . اوديوکليوال (سراب) کور يې په دې تور وسوځاوه چې زوی يې دطالبانوسره اړيکي لري .

داکتوبرپه ۱۲مه دلغمان ولايت دعليشنګ ولسوالي د مياصاحب دره په پله سيمه کي نيواګګروپه يو موټر چې له سيند څخه يې تيرېدې بارولې بمبار کړی ،په دغه بمبار کي دموټر وان په ګډون څلور تنه ولسي وګړي شهيدان شوي دي .

داکتوبرپه ۱۳مه دپکتيا ولايت مرکز ته څېرمه نازيانو کلا کي ديرغلګرو په بمبار کي اووه تنه ولسي هيوادوال شهيدان شوي دي . دعيني شاهدانو په وينا وژل شوو کسانو ديادي شوي سيمې په يوه غره کي لرګي تولول چې ديرغلګرو له خوا په نښه اوشهيدان شول .

داکتوبر په ۱۴ مه دميدان وردګ ولايت دجلګه ولسوالي مرکز ته نژدې يوځوان چې دخپل کور مخ ته ولاړ و، ځايې عسکرو له نژدې پوستې څخه په نښه اوشهيد کړی دی .

داکتوبر په ۱۵ مه دهلمندولايت دمارجې ولسوالي د تريخ ناوړه سيمه کي يرغلګرو دچاپې پرمهال دوه تنه

ولسي وګړي بنديان کړي دي .

داکتوبر په ۱۶ مه دزابل ولايت د سيوري ولسوالي په بدين کلي کې ځايې عسکرو ددغه کلي ډيرى اوسيدونکي وهلي اودوه تنه يې دبنديانوپه توګه خپلې قرارګاه ته بيولي دي .

داکتوبر په ۱۸ مه دغورولايت دچهارسدې ولسوالي په بردیز سيمه کې اربکيانودطالبانوسره ترسختې جګړې وروسته په يادې شوې سيمه کې په لسهاووولسي وګړي شهيدان اوټپيان کړي دي .دځايې اوسيدونکوپه وينا اربکيانودخلکواتيا(۸۰)کورونه لومړى چور کړي اوبيايې سوځولي دي .

داکتوبرپه ۱۹ مه دلوګر ولايت دازره ولسوالي په منګل دره کې يرغلګرو ځواکونوداخلي عسکرو په ملتيا چاپه وهلې، درې تنه ولسي وګړي يې شهيدان کړي او خلګو ته يې ډير مالي زيانونه هم اړولي دي .

داکتوبر په ۱۹ مه دکندهار ولايت مقام مخ ته دخاکريز ولسوالي خلک داحتجاج په توګه راټول شوي وو، دوی ويل چې دخاکريز ولسوالي په مختلفوسيمو کې داردو د عسکروپه بې هدفه ډزوکې ډير زيانونه ورته اوښتي دي اودبهلګې په توګه يې ديوه توغنديز برېديادونه وکړه چې يوولس تنه ولسي وګړي پکې شهيدان اوټپيان شوي دي .

داکتوبر په ۱۹ مه داخلي عسکرودفراه ولايت د فراه رود ولسوالي بازار ته په لاره يو موټر سايکل په نښه کړى چې له امله يې دوه تنه ولسي وګړي شهيدان شوي دي .

داکتوبر په ۱۹ مه دهلمندولايت د سنګين ولسوالي د کنجک په سيمه کې ديرغلګروپه ډرون حمله کې يوملکي وګړى شهيد شوى دى .

داکتوبرپه ۲۱مه د کونړ ولايت د څوکى ولسوالي په چمبيل سيمه کې دداخلي عسکرودهاوان په ډزوکې درې ماشومان شهيدان شوي اودوه تپيان شوي دي .

داکتوبر په ۲۲مه دهرات ولايت د کهسان ولسوالي په قدوس اباد سيمه کې ځايې عسکرو شل تنه ولسي هيوادوال بنديان کړي دي

داکتوبرپه ۲۵مه د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالي په بازي خېل سيمه کې اربکيانودولسي خلګودسپرلي پر يومـوټر ډزي کړي چې لـه املـه يې څلور تنـه هيـوادوال شهيدان شوي اودوه کسه زخميان شوي دي .

داکتوبرپه ۲۵ مه دهلمند ولايت د نادعلي ولسوالي دشني جامع پـه سيمه کې ديرغلګروپـه ډرون حملـه کې دوه نفره مستريان چې په موټرسايکل سپاره وو، شهيدان شوي دي .

داکتوبرپه ۲۶ مه دلغمان ولايت دقرغيو ولسوالي په چار باغ سيمه کې دداخلي عسکروپه ډزو کې يو دمکتب شاګرد شهيدشوى اوپوښل زده کونکى ديوسپين ږيرې په ګډون ژوبل شوى دى .

داکتوبر په ۲۷ مه د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالي په بيمارو سيمه کې کورنيوعسکرودچاپې پرمهال دوه تنه ولسي وګړي بنديان کړي اويوه ميرمن يې ژوبله کړې ده .

داکتوبر په ۳۱ مه دکاپيسا ولايت د نجراب ولسوالي په افغانيه سيمه کې اربکي ملېشو د شير علي په نوم يو تن موټروان نيولى اوبياشهيد کړى دى .

مأخذونه :[بي بي سي راډيو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک =،خبريال وېبپانه ،لراوبر= ،ټن ټکى اسيا= اوبينوا=]

عمر رضی الله عنه او بشري قوانین

حامد

عمر بن الخطاب رضی الله عنه به دمدیني په کوڅو کې دشپې مهال دمسلمانانو دحال پوښتنې له پاره ګرځیده، د یوه ماشوم ژړا یې واوریدله، هغه کورته ورنږدې شو او پوښتنه یې وکړه، چې ماشوم ولي ژاړي؟ دماشوم مور ورته وویل: له تې مې پریکړی دی. دایوه طبیعي پیښه ده، هرڅای ماشومان له تې جلاکول کیږي، بیا څه موده ژاړي ورسته عادي شي، عمر رض دا پیښه عادي ونه بلله، هغه په خپل اولس له مور او پلار هم مهربانه و، دماشوم له مور سره یې خبرې وغږولې، آخر ورته معلومه شوه، چې هغې ماشوم له مناسب مودې مخکې له تې جلاکړی دی.

ځکه په عمري نظام کې به چې ماشوم له تې جلاکړل شو، له بیت المال نه به سل درهمه ورکول کیدل، د دې مور سلو درهمو ته اړتیا وه، نو ځکه یې ماشوم له وخته مخکې له تې جلاکړی و، عمر رض چې داخبره واوریدله کورته ولاړ، دماشوم دسلو درهم قانون یې تعدیل کړ او هغه داسې چې دتې پریکولو په مهال نه، بلکې دماشوم دپیدا کیدلو په مهال به سل درهمه ورکول کیږي، څو ماشومان په مناسب وخت کې له تې جلاکړل شي. دا هم دماشومانو دحقوقو په اړه نوی قانون و، او دیوه ماشوم په ژړا سره له نامناسب وخت نه مناسب وخت ته تعدیل شو.

یوه بله شپه عمر رضی الله عنه په مدینه کې ګرځیده، له یوه کور نه یې د یوې ښځې په غږ کې شعرونه واوریدل، هغې ویل: داشپه څومره اوږده او توره شوه، خواشیني یم، چې جانان مې نشته، څو لوبې ورسره وکړم. داسمانونو دپاسه یې چې عرش دی، دهغه عرش خاوند که نه وی، د دې کټ اړخونه به مې ایستلي وی. دا هغه کورته ورنږدې شو او غږ یې پرې وکړ: څه

چل دی خورکی؟ هغې ورته کړه، څو میاشتې کیږې میږه مې جهاد ته تللی دی، یادیږې مې... امیرالمؤمنین عمر بن الخطاب کورته ولاړ دخپلې لور ام المؤمنین حفصې رضي الله عنها کره ورغی، هغې ته یې وویل: لورې! څومره وخت ښځه بې میږه صبر کولای شي؟ لوریې وشرمیدله، سریې ښکته کړ، ده ورته وویل: لورې مه شرمیږه، ان الله لایستحي من الحق، الله حق نه پریږدي بیانوي یې !ته هم په حق خبره شرم مکوه، زما پوښتنه دامت دمیرمنو له پاره ده، کنه نه مې کوله، لور یې ورته وویل: څلور، پنځه اوشپږ میاشتې.

عمر کورته راغی، دخپلو لښکرو مشرانو ته یې ولیکل: لښکریان له څلورو میاشتو زیات مه ایساروئ، همدا خبره قانون وګرځیدله، داسې قانون چې دمسلمان امت دښځو مهم حق یې خوندي کړ، دې قانون دپارلمان او تنفیذی قوې جراوبحث او اوږدو جنجالونو ته اړتیا ونه لیدله، بلکې یو عمر رض بله دمدیني دښار یوه اوسیدونکي میرمن او دعمر رض لور حفصه رض، دوی دریواړو دا قانون رامنځته کړ او دښځو دمهم حق په اړه یې خورا په ساده توګه تصویب کړ.

زیدبن الخطاب د عمر رضي الله عنه ورور و اوپه ده ډیر ګران و، د ردة په جګړو کې وژل شوی و ،یوه ورځ عمر دمدیني په ښار کې د ده له قاتل سره مخامخ شو دا وخت هغه مسلمان شوی و او دعمر رض داولس یو غړی و، عمر رضی الله عنه هغه ته وویل: په خدای قسم که ځمکه له روانو وینو سره مینه وکړي، هم زه به له تاسره مینه ونکړم، هغه ورته وویل: ای امیرالمؤمنین !نو دا به زما په حقوقو کې نقصان راولي؟ عمر ډاډ ورکړ: نه ستاحقوق په دې سره نه تاواني کیږي. هغه کس په ډیره بې پروایي له ده نه په روانیدو شو او ورته ویې ویل: دښځو دمینې خبرې دي راخیستې دي، یعني زما او ستا دحقوقو او واجباتو موضوع ده، زه ستا مینې ته اړتیا نلرم.

عمر دوخت واکمن و ،داکس یې د خواړه وړور قاتل و، په زړه کې پرته کړکه یې هم ورته ښکاره کړه، خو هغه په سخریه او خندا سره ورته وویل: دښځو دمینې خبرې دي راخیستې دي، زه ستا مینې ته اړتیا نلرم، عمر رض هغه ته هیڅ هم ونه ویل او خپله لاره یې ونیوله. داد عمر بن الخطاب رض په واکمنۍ کې د بیان او تعبیر دحقوقو خوندیتوب دی ، هغه حر او ازاد انسان و، د وخت ستر واکمن ته یې په ډیره روښانه توګه او هغه چې په زړه کې یې و ،بیان کړل همدا داسلامي نظام دبیان دحریت موضوع ده او ډیره روښانه ده.

په عربو کې مهرونه ډیر زیات وو، دعمر رض په شورى کې دا شکایت وشو، اخر دشورى په موافقت د ولور په اړه قانون رامنځته شو او هغه دا چې له څلور سوه درهمه

دمجاهدینو میډیا غښتلي ده !

